# د پښتنو نسلي څېړنه

ستډی سنټر

Ketabton.com



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

یونیورسټۍ تصویر

د چاپ حق له لیکوال سره خوندی دی


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | د پښتنو نسلی شجره |
| مؤلف | : | اثرجان |
| سن اشاعت | : | مئی ۲۰۱۲ |
| تعداد | : | ۵۰۰ |
| قیمت | : | ۱۵۰ روپۍ |
| کمپوزر | : | تنویراقبال |
| ناشر | : | جدون پریس، پېښور |
| درک | : | پښتونخوا سټډی سنټر عبدالولی خان پوهنتون، مردان |
| موبائل | : | 0345-9333150 |
| برېښنا لیک | : | asarjan123@gmail.com |




Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| شمېره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ١ | سریزه | 9 |
| ٢ | فن تاریخ او نسل انسانی | 14 |
| ٣ | د لفظ افغان څېړنه | 17 |
| ٤ | د لفظ پښتون څېړنه | 21 |
| ٥ | پښتون نسل | 25 |
| ٦ | پښتانهٔ هن دی | 26 |
| ٧ | پښتانهٔ ساکا دی | 27 |
| ٨ | پښتانهٔ عبرانیان دی | 28 |
| ٩ | پښتانهٔ یونانیان دی | 29 |
| ١٠ | پښتانهٔ آرمنیان دی | 30 |
| ١١ | پښتانهٔ قبطیان دی | 31 |
| ١٢ | پښتانهٔ بنوقطوره دی | 33 |
| ١٣ | پښتانهٔ آریا دی | 34 |
| ١٤ | آریا په کلتوری توګه | 34 |
| ١٥ | آریا په ژبوی توګه | 35 |
| ١٦ | پښتانهٔ مخلوط النسل دی | 41 |
| ١٧ | پښتانهٔ بنی اسرائیل دی | 43 |
| ١٨ | د اسرائیلیانو لنډ تاریخ | 44 |
| ١٩ | د پښتنو او اسرائیلیانو عمومی مطابقی جدول | 54 |





| | | |
|---|---|---|
| ٢٠ | پښتو ژبه | 63 |
| ٢١ | د انډویورپی ژبو جدول | 66 |
| ٢٢ | د پښتو ژبې خصوصیات | 71 |
| ٢٣ | د انډویورپی ژبو نه مخترع شوې اسرائیلی ژبې | 74 |
| ٢٤ | د افغانانو ابتدا | 77 |
| ٢٥ | مهاجناپاداس | 78 |
| ٢٦ | اترپاتها | 80 |
| ٢٧ | د لفظ افغان لرغونتیا | 81 |
| ٢٨ | د قېس په بابله لنډه څېړنه | 84 |
| ٢٩ | د قېس مختلفې شجرې | 87 |
| ٣٠ | د بحث نچوړ | 92 |
| | ==== دوېمه برخه ==== | 100 |
| ٣١ | د سامی او آریائی ژبو لنډه پېژندګله | 101 |
| ٣٢ | د پښتو نورو ژبو سره مشترکه لسانی جدولونه دراوړی | 107 |
| ٣٣ | سومیری | 109 |
| ٣٤ | سامی | 112 |
| ٣٥ | یورپی | 117 |
| ٣٦ | ترکی | 119 |
| ٣٧ | ایرانی | 120 |
| ٣٨ | سنسکرت | 122 |


Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۳۹ | اوېستا | 123 |
| ٤۰ | اویستا او سنسکرت سره متقابل د پښتو ژبې منفرد تګ لاره | 126 |
| ٤۱ | G2C Haplogroup | |
| ٤۲ | عکسونه / نقشې | |
| ٤۲ | کتابیات | |




# انتساب

د ستر څېړن کار دکتور حبیب الله تږی په نوم

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

د پښتون قام د نسلي تشخص په اړه ډېر څۀ لیکلي شوي دي. د لوے سختن مننه چې اوس دې لیکلو د مطلق نقل نه څو ګامه وړاندې د علمي تحقیق او تنقید لار اختیار کړې ده او چې چرته علمي تنقید راشي نو هلته حقائق په خپله برسېره کېدل شروع شي. هم دا وجه ده چې نن کۀ د اسرائیلي نظریې منونکي دي او کۀ د آریا، دواړو په خپلو مقابل وړاندېزونو علمي انتقاد سره سره خپل وړاندېزونه هم د سائنسي دلائلو په بنسټ سنجول شروع کړي دي او هغه روایات چې د پرله پسې نقل له کبله ئې د تقدس شکل اختیار کړے وۀ. اوس ئې دوی په خپله په غندنه بوخت دي. ځکه چې د علم په مېدان چې تر څو یو خبره پخه شوې نۀ وي هیڅ کله هم حتمي نۀ شي منلے کېدے. کۀ هغۀ د قېس شجره وي او که د پکت افسانه.

د دې کتاب وړومبۍ برخه زما په اردو (ژبه) کښې په "دلزاک" قبیله د لیکلي شوي تاریخ د یو باب ژباړه ده.

هر کله چې د دغه کتاب د عمومي بحث سره سره دې کښې د پښتنو د نسل په اړه لنډ بحث هم علمي حلقو خوښ کړے وۀ، نو د دې ډاډګیرنې په وجه ما اوغوښتل



چې خپلې درنې مورنۍ ژبې (پښتو) ته دا برخه سره د تشریحي حواشیو راواړوم.

د کتاب دوېمه برخه په لساني مطابقي جدولونو مشتمله ده. یقیناً دې کښې به هیڅ مبالغه نۀ وي چې دا وخت په مخ د زمکې صرف پښتو یو داسې ژبه پاتې ده چې د ژبو د هر ټبر سره مطابقي اړوند لري. تر دې چې د سومیرۍ ژبې (چې پوهان ئې په مړو ژبو کښې شمیري او د خپل انفرادیت له کبله ئې د ژبو له یو ټبر سره هم نۀ تړي) سره هم لکه د اکادۍ ژبې مطابقي اړوند لري، حال دا دے چې اکادي د سومیرۍ انجذابي شکل ګڼلې شي، خو چرته پښتانه او چرته سومیر (علاقه او ژبه)؟

هم دغه حال د سریانۍ ژبې سره (چې دا وخت په اصلي او خالص شکل د معدومتیا په حال ده او د ترکۍ، عراق او شام په یو څو کلو کښې وئیلې شي) د پښتو د مطابقي اړوند دے.

دغه راز آشوري، عبراني، قبطي او عربي ژبې هم پښتو سره مطابقي تړون لري.

بل طرف ته د ترکۍ (ټبر) ژبو نه آزربائي جانۍ او نورو نوعو سره جوړ لساني تړون هم په دې خبره دلالت کوي چې پښتو لکه د ژوندو ژبو موثر انجذابي قوت لري او دا قوت



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې خبرې غماز دے چې پښتو صرف هغه ژبو له په خپل لمن کښې ځاے ورکوی چې د دې انجذابی قوانینو ته د غاړې ایښودو توان لری.

د ژبو له ټبرونو نه یو دراوړی ټبر هم دے. دا یو خوندور حقیقت دے چې په پښتو کښې ډېر ټکی داسې دی چې په ماده او معنی دواړو یو شان د دراوړی ټبر په براهوی نوعه کښې مستعمل راروان دی.

تر څو چې د انډویورپی سترې ډلې خبره ده پښتو کښې د دې ډلې د ټولو ټبرونو د ژبو مطابقې ټکی موندی شی. کۀ هغه یونانی، لاطینی یا انګریزی وغېره ژبې دی.

په آریائی او ایرانی ټبرونو کښې د پښتو ژبې میلان او ژبوی تړون د ایرانی ټبر سره واضحه دے او په ایرانی ټبر کښې ئې هم د لرغونو نوعو لکه ګیلکی، لری او اویستا سره مطابقی اړوند زیات دے. یقیناً دا تړون د پښتو ژبې په قدامت جوت دلالت کوی او مونږ ته د دې ژبې علمی ارزښت په ډاګه کوی. چې دا ژبه د پرمختګ په کلهم جزئیاتو مشتمله ده. او د سنسکرت، اوېستا، سومیرۍ او نورو لرغونو ژبو برعکس ځکه ژوندۍ پاتې شوې ده چې دې نۀ یواځې لکه د ژوندو ژبو د نورو ژبو اثرات قبول کړی دی بلکې په هره ژبه ئې خپلې اغیزې هم غورزولی دی. دا



بېله خبره ده چې په دې دوہم حقیقت ډېر کم کار شوے دے.

دغه شان پښتو د ګرامر په جمله صنعتونو کښې د آریائی ژبو نه د خپل انفرادیت اظهار قدم په قدم کړے دے. لکه واؤ د جمعې چې د سامی ژبو خاصه ګڼلے شی، په پښتو کښې عام مستعمل دے. یا سامی حروف جاره شو یا لکه اسمائے اصوات شو. دا یو لویه موضوع ده، خو زمونږ ژبه صرف په دې هم اکتفا نۀ کوی، د آریائی ژبې "دال" کۀ د اوېستا برعکس په لام بدلوی نو حرف "غ" هم د خپلو حروفو په لښکر کښې د حرف اصلی په توګه لوبوی.

پښتنو په ایران او هندوستان باچائی کړی دی، دې قام د زال او رستم د وختونو نه واخلې تر دا دمه ستر قامی او علمی مبارز زېږولی دی. بل طرف ته ایرانیان شاه پسنده او اباپسنده قام دے. دوی تل خپل ملی اتلان د مبالغې تر حده ستائیلی دی. خو چې خبره پښتنو ته راشی نو تل ئې د دېوانو په اولاد یاد کړی دی. حال دا دے چې د "دیو" کلمه د دوی په لغت کښې تر اوسه د کرکژن ذات دپاره مستعمل ده. هم دغه کلمه په پښتو کښې هم په دغه معنا مستعمل ده. خو بل طرف ته هندی آریاګان "دیو" بزرګې هستۍ ته وائی.



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه حال د پکت هم د ے چې تفصيل به ئې تاسو مخکښې په خپل مقام ولولئ. تر څو چې د لسو قبيلو د جنګ خبره ده نو د دې په بابله روايات د تحقيقي غوښتنو برعکس په مکمله توګه افسانوی هئيت لری. ځکه چې نۀ تر اوسه د دې جنګ د مقام تعين شو ے د ے. نۀ ئې د زمانې او نۀ ئې څۀ نور تفصيلات ترلاسه دی.

په اخر کښې زۀ د دې کتاب د تکميل په لړ کښې د پروفيسرډاکټر محمد همايون هما او ډاکټر اسرار صيب په حوصله افزائۍ او علمی کمک خصوصی شکريه ادا کوم، او د سائل صيب په دې شعر خپل کلام راغونډوم:

خلق کنډرې لټوی ته ورشه هم پښتونه
کۀ چرته تۀ هم پکښې خپله استانه پيدا کړې





د علم تاريخ بنيادی محرک د انسان د خپل تېر وخت سره موروثی تړون د ے. په وړومبی کښې دې فن د انسانی کلتور په چوکاټ کښې د داستانونو په شکل رواج لرلو. چې قامی يادونې به پکښې د قيصو په شکل نوی کُول ته سپارلی شوې. بيا چې کله انسان بتدريج د ليک لوست فن زده کړو نو د خپلو نورو امروزه ضروریاتو سره سره ئې دغه قامی يادونې هم په مختلفو ځيزونو د ليک په شکل ساتل شروع کړې.

عموماً به دغه يادونې د دينی، روحانی يا قامی مشرانو د ژوند په حالاتو پورې اړه وې. چې به د تحقيق، تدقيق او د ضابطو نه پرته د مينې او عقيدت په پېرزونو مشتملې وې. هم له دې رجحان له کبله به قامی يادوئنو د تاريخ په ځا ے د افسانو شکل اختيار کړو. بيا چې هر کله انسان د حسی شعور په وجدان علوم کوټلی کول شروع کړل نو د نورو فنونو په څير ئې فن تاريخ هم په نوی قواعدو او تصوراتو مزين کړو. او نن دې فن د يو سائنسی علم شکل اختيار کړ ے د ے. هم دغه وجه ده چې نن تاريخ د ژوند د هر اړخ احاطه کښې بوخ د ے، او د انسانی



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

تهذیب د هغه ټولو اجزاؤ په ضبط تحریر راوړلو کښې مشغول دے. کومو چې د بنی نوع انسان د موجوده تمدن تشکیل کړے دے. اوس تاریخ ګڼ علوم لکه سماجیات، الهیات، بشریات، نفسیات، لسانیات، معاشیات، فلسفه او علم آثار قدیمه په بشپړه توګه د ځان سره ملګری کړی دی. هم له دې کبله چې کله مونږ د یو قام یا قبیلې تاریخ لیکونو د هغه ټولو امورو او عواملو جائزه اغستل راله لا زم شی. چې د دغه قوم د عروج او زوال په اړه متحرک پاتی شوی وی.

انسانی معاشره د ګڼو نسلونو مجموعه وی او دا مجموعه د قوم تشکیل کوی. نسل د یو خاندان یا قبیلې داسې ډلې ته وئیلی شی چې د یو نیکهٔ اولاد وی. دا ډله عموماً په رنګ، شکل، قداو عاداتو کښې یوشان والے لری. برعکس د نسل، د یو قوم تشکیل د مختلف نسلونو د باهمی اشتراک نه کیږی چې عموماً د علاقې، مذهب یا تهذیبی اقدارو وغیره په ډاډ جوړښت مومی.

په وړومبی کښې به نوع انسان په درې ډلو منقسم ګرزولے شو. چې بالترتیب به په بنی حام، بنی سام او بنی یافث یادېدل. دا تقسیم د هغه مذهبی روایاتو نه ماخوذ وهٔ. چې د هغې په وېنا د طوفان نوح نه پس د انسانانو



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

نسل د هغوی د باندنی ځامنو نه خور شوے وۀ. هم په دې وجه نوح ته آدم ثانی وئیلی شی خو په دې روایت کښې د نوح د هغه منونکو د اولاد هيڅ ذکر نشته چې دوی سره ئې په کشتۍ کښې نجات بيا موندے وۀ.

جديد څېړن کار د مختلف قومونو د نسلی څېړنې په حقله ژبې له جوت اهميت ورکوی. د دې حضراتو په خيال قبائل او قومونه د ژبې د اختلاف په وجه وجود مومی. د يوې اندازې د مخې دا وخت دنيا کښې د شپږنيم زرو نه زياتې ژبې وئيلی شی[1]. د لسانياتو څېړن کارو د اوږد تحقيق نه پس د ژبو په بنيادی او عمومی توګه درجه بندی کړې ده. مونږ به د پښتنو د نسلی اصالت په اړه په دې موضوع بحث کوو تر څو چې د افغانانو د تاريخ تعلق دے، د آسانۍ د پاره دا مونږ په دوو برخو کښې تقسيموو.

(۱) قبل از اسلام (۲) بعد از اسلام

[1] د ملل متحد د مرتب شوی تجزيو مطابق تر 2005 پورې په دنيا کښې 6909 ژبې وئيلی شوی. په دې شمېر کښې 473 ژبې داسې وې چې د مرېنې په حال وې. په دې نسکورو ژبو کښې 182 ژبې امريکائی، 152 ژبې اوقيانوس، 184 ژبې ايشيائی. 146 ژبې افريقائی او نهه ژبې اروپائی وی په دې شمېر کښې داسې ژبې هم وې چې ويونکی ئې يو څو سوه پاتې شوی دی. (بی بی سی)



## (۱) قبل از اسلام:

د افغانانو پخوا له اسلام تعلق په بنيادی توګه د عمرانی ارتقاء د هغه مراحلو سره دے چې د کومو د تېرېدو نه پس چې دوی په اسلام کښې رادننه شوی دی. په دې لړ کښې به مونږ د دې قام په نسل، ژبه، مذهب، لرغونی مساکنو او په زړو روایاتو او واقعاتو د ليکلو هڅه کوو. خو زياته مناسبه به وی چې وړاندې مونږ د دې قام د مختلف نومونو لکه افغان، پښتون، پټهان او سلېمانی په بابله د محققينو وړاندېزونه څۀ قدرې قلم ته وسپارو.

### افغان:

د دې نوم مختلف تاويلونه شوی دی، کۀ چرې مونږ د دې ټولو تاويلاتو جائزه واخلو نو باوجود د اختلافه په دې کښې په يو نکته اتفاق موندلی شی. چې هغه د دې نوم او زړۀ ورتيا باهمی نسبت دے.

د روشن خان په خيال د لفظ افغان مآخذ عبرانی ټکے "اب" دے. چې دا اعزازی او تعظيمی نوم دے. دا په



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنی اسرائیلو کښې د ښاغلو او غشتلو د پاره مستعمل وهٔ. د بېلګی په توګه یوآب اب یشے وغیره.[1]

د خوشحال خان[2] مطابق د سلېمان په زمانه کښې د ملک طالوت زوی ته دا نوم (افغان) ورکړے شوے وهٔ. ''اُف'' په عبرانۍ ژبه کښې نیونکی ته وائی او ''غان'' د یو دیو نوم وهٔ.

د نواب اکبر خان هوتی دڅېړنې تر مخې لفظ ''افغان'' په مخصوصه توګه د بنی اسرائیلو د بن یامینی قبیلې د پاره وضع شوے وهٔ. د دې قبیلې د مورث نوم اسفانلیاس افودا وهٔ.[3]

دغه شان بعضې مؤلفینو د حضرت اقبال لاهوری خط نقل کړے دے چې په دغه خط کښې شاعر مشرق د قاضی میراحمدشاه رضوانی په حواله سره لیکی چې لفظ ''فغ'' په زړه فارسۍ کښې په معنی د بت مستعمل وهٔ او افغان کښې الف سالبه دے. چونکې چې فارسۍ کښې د مېشت په وخت د دې قوم افراد د بت پرستۍ نه بېزاره وو په دې وجه ''افغان'' سره مقلب شو.[4]

---

[1] تذکرہ افغانوں کی اصلیت اور اُن کی تاریخ ـ از روشن خان
[2] دستار نامه
[3] په حواله د "پشتون کون" از پروفېسر پرېشان ختک
[4] حکیم نجم الحسن رامپوری، اخبار الضادید په حواله د محمد اقبال خان تاجه خېل مؤلف تاریخ نیازی قبائل



د صاحب آئمة الافاغنه مطابق دا لفظ په اصل کښې ابناجاه دے، چې بتدریج افغنه شوے دے، دې د ارمیا ځوی وهٔ او د ارمیا اسرائیلی نوم جوجده وهٔ.[1]

د مسشترق بیلیو په خیال د لفظ افغان اصل ''البان'' دے چې په لاطینۍ ژبه کښې غر ته وئیلی شی. د دې ټکی یو معنی ''سپین'' هم بیان شوې ده. رومیانو به ارمینیاتو ته البان یا الوان یعنی غرځنی وئیل[2]. د کروسنسکی په خیال حرف ''ل'' په ''غ'' او ''با'' په ''واو'' بدل شو. دغه شان د البان نه اغوان جوړ شو[3]. دا هم وئیلی شی چې په یونانی ژبه کښې ''اغوان'' د غرئیزې سیمې خلقو ته وائی. د یو روایت تر مخه د شېروان او قره باغ په علاقو کښې د لویو لارو ساتندو والو ته به اغوانیخ وئیلی شو. بعضې مورخینو دې طرف ته ذهاب کړی دی، چې په اصل کښې دا لفظ د ازبک ژبې د اواګان ''Avagan'' نه معرب دے. چې معنی ئې ''اصلی'' ده. د حضریاتو د ماهرینو څېړنې ښائی چې دا ټکی په وړومبی ځل مونږ د ابګان په شکل د ساسانی حکمران شاه پور اول د نقشی رستم په ډبرو مومو. د ډبرو ټکی دی ''ګونډیفر ابګان

---

[1] په حواله د "تاریخ نیازی قبائل" از محمد اقبال خان تاجه خیل
[2] پښتانهٔ .. از ډاکټر حبیب الله تڼی
[3] په حواله د "پښتانهٔ" از ډاکټر حبیب الله تڼی



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسماد'' د دې جملې مفهوم تر اوسه نهٔ دے تحلیل شوے.
دا ډبرې په درېمې صدی عیسوی کښې ددې حکمران په امر لیکل شوې وې.

د ساسانی لړۍ شاپور درېم هم په خپلو شاهی ډبرو کښې د ''اباګان'' په نوم د یو قوم ذکر کړے دے. لرغونی چینی سېلانیانو د موجوده شرقی افغانستان په تذکرو کښې د ''اپوکین''[1] نومې یوې توریالې قبیلې ذکر کړے دے، ماهرین السنه دا ټکی دا فغان معرب ګرځوی.

په قدیمی هندی تذکرو کښې د دې ټکی مماثل د وراهامهیرا په ''براهت سمیتا'' کښې موندلے شی. لیکونکی دا کتاب د جغرافیې او فلکیاتو په موضوع په شپږمه صدی عیسوی کښې لیکلی وو. مهیرا په دې کتاب کښې د هندوستان د جغرافیائی حدودو نه علاوه د هغه زمانې د قامونو ذکر هم کړے وهٔ. په دغه ذکر شوی قامونو کښې د ''اواګان'' Avagan په نامه د یو قام ذکر هم شوے دے. د دې نوم (یعنی اواګان) د افغان نه غوره متبادل موندل مشکل دی.

زما (مؤلف) په خیال افغان په اصل کښې د افګن نه معرب دے. افګن په فارسی کښې د غښتلی او ارتاو

[1] په حواله "پښتون" از ډاکټر حبیب الله تژی



خونکی په معنی استعمالیږی. چونکې د افغانانو زړهٔ ورتیا په هره زمانه کښې بې مثله پاتې شوې ده، په دې وجه د مادیانو له خوا د افګن په اعزازی لقب مقلب شوی وو. بیا بتدریج دا نوم بتاویل اطلاق علی القوم ''افګان'' شو. او د کثرت استعمال په وجه د وخت سره د ''افغان'' په موجوده شکل کښې مروج شو.

**پښتون:**

په افغانانو کښې د وړومبی نه دا قاعده رارawانه ده چې څنګه دوی په اجتماعی توګه ځان ته افغانان وائی، دغه شان په انفرادی توګه هره قبیله ځان په پښتون خواخوی. دغه وجه ده چې د افغان او افغانستان په شان پښتون او پښتونخوا هم د زړو وختونو مستعمل راروان دی. د تتبع نه پته لګی. چې ماده اصلی د دې لفظ ''پشت'' ده. یعنی حروف اصلی ئې پ،ش،ت دی. خو د ش په ځاے ''ښ'' هم د عمومی متبادل په توګه رواج لری. یعنی پښت هم وئیلی شی. مغربیان وغیره د حرف ''ښ'' په ځاے ''ک'' استعمالوی، په دې لحاظ اصل کلمه ''پخت'' ګڼلی شو چې مغربیان ئې پکت لیکی او وائی.



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

د روښن خان د څېړنې تر مخې د "پښت" کلمې اصل عبرانی دے. د بنی اسرائیلو په تاریخ کښې "بنی پښت" یو نوموړی خېل تېر شوے دے. دا خېل په لوړو دولتی مراتبو فائز او د جنګیالی صفاتو حامل وهٔ.

د بعضې محققینو رائې ده چې دا د عبرانی ټکی "پاشت" نه مشتق دے چې معنی ئې "وېشلی شوی" ده یعنی د بنی اسرائیلو جزومنقسم.

دا هم وئیلی شی چې څنګه د مشرقی کلیسا یوې ډلې په ۲۰۰ء کښې د مغربی روایاتو سره د اختلاف په وجه د سوریا (شام) په ښار الروحا کښې د سریانۍ کلیسا بنیاد ایښودے وهٔ او د انجیل په بابله ئې خپل تعبیرات د "پشتینا Pashteena" یعنی ساده تعبیراتو په نامه موسوم کړی وو[1]، دغه شان دا قوم هم خپل ساده و ارفع روایاتو یعنی "پښتونولۍ" په وجه پښتون مشهور شو. پوښتون شاعر څهٔ ښهٔ وئیلی دی.

ساده دی اندازونه کړه شډل شډل کتل
دا چا وې چې انداز د پښتنو مهٔ زده کوه

په جدید اروپائی څېړن کارو کښې د اکثر ګوند دا خیال دے چې پښتانهٔ په حقیقت کښې هغه پکتیا قبیله

[1] بحواله تاریخ نیازی قبائل از محمد اقبال خان تاجه خیل



ده چې ذکر ئې په رګوئید کښې شوے دے. دا قبیله د هندی آریاؤ د دریو منځګړو څانګو نه یوه وه، د دې وړاندېز د پرمختګ په کتنه کښې بعضې محققینو د هیروډوټس د سپل نامې نه هم حوالې ورکړی دی، دې مورخ او سپلانی په خپلې سپل نامه کښې د پکتویس په نوم د یوې قبیلې ذکر کړے دے. دغه شان د بعضې اروپائی څېړن کارو په خیال د "پښت" کلمې اصل بخد دے. بخد قبیله د آریاؤ د باختری څانګې نه وه. دا قبیله په بلخ کښې اباده وه. د دوی په رائې بلخ هم په اصل کښې "بخد" وهٔ.

## پټان / پټهان:

دا افغانانو ته د نورو قامونو له طرفه ورکړے شوے نوم دے. د پښتون برعکس افغانان په خپل مابېن کښې د پټان په توګه خپل نسلی شناخت نهٔ خوښوی، د دې نوم د وجهٔ تسمیه په بابله مختلف روایات دی.

د افغان مورخینو په خیال پټان په اصل کښې بطان دے[1]. چې د کشتۍ په لاندې حصه کښې لګېدلې لرګی ته

[1] د عربو لغت کښې د البطن معنی ده، د هر څیز دننی برخه، البطان هغه ځادر ته وئیلی شی چې په اس باندې د مچانو له ځاری له کبله اچولی شی، بطانة د کپړې استر، راز ته وئیلی شی. ابن اثیر په خپل تالیف "اللباب فی تهذیب الانسان" کښې "بطان" د طریشیت په سیمو کښې د



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

وئيلي شي. دا نوم له دربار رسالت نه قيس عبدالرشيد ته ورکړے شوے وۀ.

د مغلی دور د مورخينو مطابق اسم پټهان هندوستانی ښار پټنه ته نسبت لری، په دې وجه چې کله افغانانو په هندوستان باندې يرغلې شروع کړې نو د روهبی مستقر په توګه ئې په پټنه کښې ودانۍ سازې کړې وې. په دې وجه نورو قومونو پښتانۀ په پټهان ونومول.

د خان خوشحال خان د څېړنې تر مخه پښتنو ته د پټهان نوم د محمود غزنوی له خوا د سومنات په غزا کښې د بې مثله مړانې په وجه ورکړے شوے وۀ.

ظفر کاکاخيل (مرحوم) دا يو لسانی اصطلاح ګڼی چې د پشتانه يا پښتانه روان شکل دے. د فارسۍ په بعضو کلمو کښې موجود ټکی لکه ش، ت (شت) په هندی ژبه کښې په ټهـ سره بدليږی لکه مشت نه متهی، پُشت نه پيټهـ، لشت نه لټهـ يا لاټهی، دغه قاعدې سره سم پشتان نه پټهان جوړ شو.

نيشاپور په خوا يو کلی روايت کړے دے (دا کلی اُوس موقعيت نهٔ لری) دغه شان د ګوادر نه ۱۰۰ کلوميټره لرې د بندر عباس په سئېل (شمال) کښې د يو ښار ګوټی نوم دے، د دې زوړ نوم "پټ هان" وهٔ (ماخوذ از قيس پټان، مسعود الحسن خان روهيله)



## سلېمانی:

د افغانانو دا نوم هم ډېر پخوانے دے. روهبی عرب مورخينو دا قام عموماً په دې نوم سره ياد کړے دے[1]. د خلاصة الانساب مطابق پخوا زمانه کښې د ملک شام د کوه سلېمان[2] سره د تعلق په وجه دوی سلېمانيان نومولی شوے وۀ. د بعضو دا رائې ده چې دا نوم کوه سلېمان (ډېره اسماعيل خان) ته منسوب دے. سلېمانيه په عراق کښې هم د يو ځاے نوم دے. چې هلته د لرغونی ادوارو نه اسرائيليان آباد راروان دی هم دغه وجه ده چې د اسرائيليانو يوې ژبې ته نن هم سلېمانيه وئيلی شی.

## پښتون خونه (نسل):

اګرچې افغانانو همېشه د قامی او قلمی رواياتو له کبله خپل نسلی تړون بنی اسرائيلو سره بيان کړے دے

[1] شاه نعمت الله دهلوی 560هـ د خپلو پيشنګويو په مجموعه کښې ليکی "ګردد بنو سليمان باشد چون فضل رحمان يعنی که قوم افغان باشند صد علانه"

[2] په افغانی تذکرو کښې د قېس تاتوبی کوه سليمان (کسی غر) روايت شوی دی. تر څو چې د کوه سليمان تعلق دے. نوی څېړنو نه رابرسېره شوی دی. چې د علم حديث په وقيع څانګه اسماء الرجال کښې د قېس بن يزيد په اړوند د کوه سلمان ذکر شوے دے. د دې غر وقوع د بلخ په منطقه کښې بيان شوے دے(مسعود الحسن روهيله – قيس پټهان – تحقيق کا ايک پهلو) ابن نديم په خپل قابل قدر تاليف د "الفهرست" په نهمه مقاله کښې ليکی "بلخ نه ملتان ته بلکل نېغه لار ده. ځکه چې د ملتان ودانی بلخ سره زياتې نزدې او تړلی دی. (اثرجان)
د خاص بلخ په بابله ابن بطوطه په خپله سفرنامه (رحلة ابن بطوطه ، مصرچاپ) کښې ليکی چې د حزقيل (اسرائيلی پېغمبر) مزار دلته دے. دې په دې لړ کښې زياتوی چې د دهٔ په مزار قبه جوړه ده او مونږ پخپله د دهٔ د مزار زيارت ته لاړو. (اثرجان)



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو مناسب معلومیږی چې دلته څۀ ذکر د هغو نظریاتو هم ووشی چې د دې قام په بابله په مختلف وختونو کښې په ډاګه شوی دی.

واضحه دې وی چې دا وړاندېزونه د علمی پس منظر سره سره د سیاسی، مسلکی او نسلی تعصباتو غمازی هم کوی. دغه وجوهاتو کۀ یو طرف ته تحقیق او تنقید ته د ودې موقع ورکړې ده نو بل طرف ته ئې د دې قام د نسلی اصالت په بابله اختلافات هم جوړ کړی دی.

زمونږ دې دلیل له د هنری راورټی د دې تبصرې نه هم تقویت ملاویږی "د یو قام د اصلیت او نسب په بابله به د نظریاتو تفاوت دومره زیات نه وی څومره چې د افغانانو د اصلیت او نسب په بابله دی".

لاندې مونږ څۀ قدرې اجمالاً دا وړاندېزونه قلم ته سپارو.

## پښتانۀ هن دی:

د دې وړاندېز تر مخې پښتانۀ په نسب هن (قام) دی. هن په اصل کښې تاتاریان وو. دې قبیلې په خپل وړومبی چپاوئنو کښې ګندهارا دل ول کړې وه. او بیا ئې بتدریج په پنجاب یرغلې کړې وې. په ٤٤٥ء کښې د ګپتا



تېر اخری راجه له د ماتې نه پس دوی خپلې باچائې له پرمختګ او استحکام ورکړے وۀ. ایرانیانو دا قام په افتالی او هفتالی نومونو یاد کړے دے. بل طرف ته عربانو دوی په هیطل یا هیاطله نومولی دی. د هن نظریې سره تړون لرونکی څېړن کار د پښتنو ابدالی او افتالی (هن) یو قبیله ګرځوی.

## پښتانه ساکادی:

ساکا د ستهین قام د یو قبیلې نوم وۀ. د دې قبیلې د ذیلی څانګو نومونه دا رقمی وو (١) توری (٢) اګاتیرس (٣) نری (٤) ملا (٥) تکلانی (٦) ګلونی (٧) سرماتی.

ساکا په حربی فنونو کښې بې مثله وو. په خصوصی توګه دا قبیله په تېراندازۍ کښې بې مثله وه. د ساکاوۀ خپل قامی دوددستورونه او ژبه وه. ماهرین موجوده سری کولی ژبه د ساکاوۀ د لرغونی ژبې موجوده شکل ګنی. د څېړن کارو مطابق د دې قبیلې د واکمنۍ مرکز سیستان وۀ. خپله سیستان له ساکستان معرب دے. دا وخت د سیستان زیاتره حصه ایران کښې ده، څۀ لګه حصه ئې په افغانستان کښې هم موقعیت لری. عربانو (مورخینو) به سیستان ته سجستان وئیلو. سلطان



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان صابر په خپل تالیف کښې د کنستی شوو ډبرو او خزو په حواله پښتانهٔ ساکا قبیله ګڼلې دي. ولی الله خان هم د پښتنو د اصل په بابله د ساکا وړاندېز قائل وهٔ.

هیروډوټس ساکا او پکتا جلاجلا بیان کړی دی. د دې مؤرخ مطابق ''ساکا'' یو نوم دے چې پارسیانو د باختر ټولو قامونو له ور کړے دے. هم د دغه مورخ د وېنا تر مخې په پارسی قبائلو کښې نیم پارتهی دی، د هیروډوټس بیانوی چې ساکاؤ کوروش (سکندر ذوالقرنین) شهید کړے وهٔ او دارایوش د دوی نه تېښته کړې وه.

## پښتانهٔ عبرانیان دي:

د خان علین مکان خوشحال خان خټک مطابق پښتانهٔ د حضرت ابراهیم د ورور[1] اولاد دی. دوی د دستار نامې په اوولسم هنر کښې د نسب د عنوان لاندې چې کله

[1] سکندر مقدونی په خپل یاداشتونو کښې لیکلی دی "هغه خلق چې ما د دجله او فرات په دوابه کښې لیدلی وو، هم دغه خلق ما د سندهـ په وادی کښې ولیدل. هیرودوټس هم داسې یوې موضوع ته اشاره کړې ده. (د افغانستان ملی تاریخ از قدرت الله حداد فرهاد)
مسعودی په مروج الذهب کښې د سریانی باچایانو په بابله لیکی "د دوی د وړومبی باچا نوم 'شوشان' وهٔ، وروستو د دې خاندان واکمنی د هند او سند نه په تېره تر بسط (بست)، غزنین او لعس نه تر هغه ټولو زمکو پورې پراخه شوې وه، چې په نهر هرمند(هلمند) اباد دی. د مسعودی په روایت په 332هـ کښې د دې سریانی لړی د باچایانو لقب 'زنبیل' وهٔ"، ابوالحسن بن حسین بن علی المسعودی مروج الذهب و معادن الجواهر (اول ټوک) نفیس اکېډمی اردو بازار، کراچی.



د پښتنو د نسب په بابله د خپلې مطالعې ذکر کوی نو د بخت نصر د لاسه د حضرت دانیال او نورو اسرائیلیانو د بې کوره کېدو او په کرمان او سیستان کښې دمېشته کېدو روایات بیانوی. دوی روایت کوی چې د بعثت نبوی په وخت پښتانهٔ د اور پرستو (ایرانیانو) سره په جنګونو کښې بوخت وو.

په تورات کښې د ابراهیم د دوو ورونو ناحور او حاران ذکر راغلے دے. حاران د خپل پلار په ژوند له دنیا نه کوچېدلے وهٔ. لوط د دوی ځوی وهٔ. د حاران په نوم په لرغونی عراق کښې یو ښار هم آباد وهٔ.

## پښتانهٔ یونانیان دي:

د روغ لیونی (عبدالغنی خان) د څېړنې تر مخې پښتانهٔ یونانیان دی. د دوی په خیال د دواړو قومونو په مخ او جثه، دوددستور او کلتوری روایاتو کښې ډېر مماثلت دے. یونانی قام په ګندهارا کښې د سکندر مقدونی د یرغلو نه وړاندې آبادۍ لرلې. د سکندر مقدونی نه پس د هغه جرنېلانو په بلخ او ګندهارا کښې بااختیاره باچائۍ جوړې کړې وې. اخوند درویزه په خپل تالیف کښې د ''پاپین'' (ننګرهار) ملک نازو خان په خټه



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوناني ليکلي دي. د دوی مطابق د سوات او ننګرهار زاړۀ سلاطين پنج په ختۀ يونيان وو[1].

## پښتانۀ آرمينيان دي:

دا وړانديز وړومبی کروسنسکی وړاندې کړے وۀ. داسې بريښی چې د دۀ مآخذ تاريخ منتظم ناصری وۀ. بيا وروستو جارج کيپل او بيليو په خپلو خپلو دلائلو دې وړانديز له وده ورکړه. په اصل کښې د دې وړانديز بنياد د لفظ افغان او اوغان باهمی يوشان والے او هغه تت روايات دی د کومو تر مخه چې افغانان په يو زمانه کښې په آرمينيا کښې مېشته وو. د کروسنسکی په وېنا "دا بالکل مبهمه او نامعلومه ده چې په بنيادی توګه دوی د شيروان يا د هغه ولايت دی چې د بحيرۀ کيپسئن په غاړو د داغستان په لوری دی. يا د هغه صحرا دی چې د غه ولايت سره پوله لری او د باب الابواب نه پورې ده".

د بعضې څېړنو تر مخه د شېروان او قره باغ په ولقو کښې د لويو لارو ساتندووی په اغوانيخ بللی شو. د بيليو مطابق د غور اوسېدونکی په بنيادی توګه ارمنی اغوان وو. دې خلقو يهودو سره د تل بندی په بنياد د يو قام

[1] تذکرة الابرار والاشرار، از اخون درويزه



تشکيل کړے وۀ. غالباً دا روايت بيليو د طبقات ناصری مؤلف منهاج السراج نه اغستے وۀ.

د مؤلف[1] مطابق د هارون الرشيد په دور کښې يو يهودی په دې شرط د بنجی نهاران شنسبی مرسته کړې وه چې د دۀ په مشورو د عمل په صورت کښې به دې يهودی ته غور کښې د مېشته کېدو اجازه ورکوی.

دا هم يو خونده ور حقيقت دے چې د قره باغ په نامه دوه درې مقامات تر اوسه په افغانستان کښې موقعيت لری. واضحه دې وی چې د يو سيمې سره تړون د قاميت بنسټ خو ګرځی خو د نسل هيڅ کله نه. محقق ډورن هم دارمنی وړانديز غندنه کړې ده. د دۀ په خيال د "سينټ مارټن دارمنستان يادونې" وئيلو نه پس دا خبره په لنډه پوهې ته راځئ چې ارمنی اغوان او افغان دوه جلا جلا قامونه دی.

## پښتانۀ قبطی الاصل دی:

غالباً دا وړانديز د ټولو نه وړومبے د تاريخ فرښتې مؤلف وړاندې کړے وۀ. داسې ګمان کېږی چې د دوی مآخذ مطلع الانوار نومی کتاب وۀ. فاضل مؤرخ خپل

[1] منهاج السراج ـ طبقات ناصری ـ ترجمه: پروفېسر افتخار احمد (اُردو)



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندېز په موسوي قبطي او فرعوني قبطي باندې تقویه کوي. بیا د فرعوني قبطیانو د ابرهه په لښکر د شمولیت په وجه د تباهۍ ذکر کوي. د پښتنو د قبطي ختې روایت یو بل مؤرخ فرید الدین احمد هم په خپلې رسالې "انساب الافاغنه" کښې کړے دے. هغهٔ د تاریخ افغاني او تاریخ غوري په حواله سره لیکي چې پښتانهٔ په ختِه اسرائیلیان دي خو بعضې په دوي کښې قبطیان هم دي. د فرعون دا مرستیال قبطیان د بې وطنه کېدو نه پس د کوه سلېمان په علاقه کښې مېشته شوي وو. دلرغوني فارس د تاریخ مطابق هنحامنشیانو ۵۲۵ ق.م. کښې د مصر د فتحې نه پس تر موجوده لیبیا پورې خپلې باچائۍ له خوروالے ورکړے وهٔ. د هیروډوټس مطابق چې کله کمبوجا (باچا) په لیپي (لیبیا) کښې برکه نومې یو وړوکی ښار فتح کړو نو دهٔ هغه په امر اهل برکه د مصر نه ایران ته ولیګلے شو، بیا د دارایوش (باچا) په امر اهل برکه ته په بلخ کښې یو کلے ورکړے شو. چې هغه د دغې قام د زوړ وطن په مناسبت سره برکه[1] مشهور شو.

[1] برکی د اورمړ قام مشهوره ذیلی څانګه ده. د دې ټکی د "برکه" سره لفظی یوشان والی بې د څهٔ تامله ښکاره دی.



دغه شان د جغرافیه خلافت مشرقي مؤلف د "بوشنج" په بابله لیکي "دا ښار د هرات نه د هری خوړ په کینړې غاړې په څهٔ فاصله سئېل (جنوب) په مخ آباد وهٔ. د عمومي روایت تر مخې د دغې ځاے هوائي چکې فرعون مصر ایجاد کړې وې هغه د خپلو ښوبو (فتوحاتو) په لړ کښې د خپل وطن نه دومره لرې راغلي وو چې تر دې ښار ئې خپله باچائي قائمه کړې وه.

## پښتانهٔ بنو قطوره دي:

د حضرت ابراهیم خلیل الله ګني بیبیانې مبارکې وې. په دغو پاکو بیبیانو کښې یو بی بی قطوره هم وه. د روایاتو تر مخې د حضرت ابراهیم علیه السلام د دې بیبی نه شپږ ځامن وو. چې د هغو نومونه (۱) مدیان (۲) یقسان (۳) مدان (٤) اسباق (٥) زمران (٦) سوخ وو.

په تورات کښې بیان شوي دي چې حضرت ابراهیم علیه السلام خپل ټول هر څهٔ حضرت اسحاق علیه السلام ته عطیه کړي وو. او د باقي بیبیانو ځامن ئې سره د ډېر مال حال مشرق پله (طرف) رخصت کړي وو. دا خلق د ایران په شمالي غربي سیمه کښې اباد شوي وو.



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یقسان په اولاد کښې حضرت شعیب علیه السلام پیدا شوے وۀ. د دوی د اسم محضه په وجه روستو د دوی قام په قینی شهرت لرلو.

د تورات د روایت مطابق چې کله ملک طالوت د عمالقو (قام) خلاف د جنګونو په وخت هغوی د سموئیل پېغمبر په مشوره قینیانو ته د عمالقو د منځ نه وتلو ووئیل، نو په دغه وېنا دا خلق د خپل وطن نه په کډه شو او په فارس کښې مېشته شو. بیا دغه قینیان د پشت په زمکه (چې د سبزوار سره نزدې موقعیت لری) آباد شو. د هنحامنشیانو په وخت دې سیمې د پارتیا په نوم شهرت لرلو. د اسلام په ابتدائی دور کښې دا سیمه په طبرستان مشهوره وه. د پشت اوسېدونکی دا بنو قطوره ړومبے په پاشتین او بیا په وروستو وختونو کښې په پشتون او پشتانۀ باندې وپېژندے شو.

### پښتون آریا دی:

د آریانو د وجه تسمیې په بابله دوه وړاندېزونه شهرت لری.(۱) آریا د کلتوری ډلې نوم دے. (۲) آریا د ژبې په بنسټ د ختې (نسل) نوم دے.

(۱) آریا کلتورنی ډله:



د دې وړاندېز تر مخې آریا د ثقافتی ډلې نوم دے. د قاضی عبدالحلیم اثر مطابق آریا د "اُر" نه معرب دی. چې معنی ئې اور ده. په لرغونی وختونو کښې "اُر" د سومیریانو (قام) د پلازمیني نوم وۀ. دا قام د اور د تقدیس قائل وۀ. د دې قام د باچائی ډاندی تر لرې لرې خوارۀ وو. د سومیریانو د اثر لاندې چې کوم قومونه د اور د نمانځلو قائله شوی وو. هغوی په آریا سره نومورې شو. د "اور" کلمه په پښتو ژبه کښ هم په دغه معنی مستعمل ده. او د اور سره د نسبت د پاره د "اورین" کلمه وضع ده.

### (۲) آریا په لحاظ د ژبې:

ماهرین السنه د آریا معنی نجیب، شریف او اصیل کوی. په پښتو کښې هم "اره" د بنیاد او اصل په معنی استعمالیږی.

د ټولو نه وړومبے روسی مستشرق پروفېسر کلاپروتهـ د پښتو ژبې د ټکو، لغاتو او قواعدو د کتنې په بنیاد د پښتنو په بابله آریا وړاندېز مخې ته کړے وۀ.

د ظفر کاکاخیل د څېړنې تر مخې "آریا" یو لسانی اصطلاح ده. او هر هغه سړے په آریا بللے کېدے شی چې آریائی ژبه وائی. د هغه په خیال دا د یو سړی یا د یو قام د



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشر نیکهٔ نوم نهٔ دے. تر څو چې د آریاؤ د ورومبی ټاټوبی (مسکن) خبره ده په دې بابله د محققینو اختلافات دی. د ګڼو څېړن کارو په خیال د آریا قام ورومبے ټاټوبے سطح مرتفع پامیر او د آمو (دریاب) مونډ (منبع) والاعلاقه ده[1].

د بعضو په خیال د دې قام ورومبے ټاټوبے سیکینډی نیویا، فن لینډ یا د ډینیوب دریاب وادی ده. بعضې ئې جنوبی روس، نور ئې جزیره نما بلقان او پاتې محققین منګولیا او چینی ترکستان بیانوی.

د پښتنو د آریائی وړواندېز په بابله د رګوید نه علاوه د یونانی سیلانیانو، مؤرخانو او جغرافیه دانو لرغونی تذکرې د سند په توګه وړاندې کولې شی. د دغې کتنو لاندې جدید څېړن کار دا عقیده لری چې پښتانهٔ هم هغه پکت[2] قبیله ده چې ذکر ئې په رګوید (د هندوانو مذهبی کتاب) او د مهابهارت د لسو قبیلو په شخړو کښې شوے دے[3]. دا څېړن کار د دې خپل وړاندېز د

[1] د پوهان عبدالحی حبیبی صېب مطابق اریائی قامونه ورومبی د خیوه، خوقند او د بدخشان په منځنی زمکو اباد وو. بیا د ابادی په زیاتی دوی په دریو ډلو کښې تقسیم شو. یوه ډله د هندوکش غر په لار د کابل د سردرو نه په تېره هندوستان ته لاړه. دوېمه ډله د ایران په مخ خوره شوه چې د هغه ځایه بتدریج یورپی سیمو ته په کډه شوه. درېمه ډله په خپل وطن پاتې شوه چې اوس په پښتنو یادیږی.

[2] بعضې څېړن کار دا رائې لری چې د مسیح نه ۱٤۰۰ کاله وړاندې د هندوانو په مذهبی صحیفه "رګویدا" کښې پښتانهٔ په دې نوم یاد شوی دی (په حواله د پښتون کون از پروفېسر پرېشان خټک)

[3] د رګوید مطابق دلسو قبیلو په جنګ کښې دې قبیلې د سوداس خلاف جنګ کړے وهٔ، (رګوید منډاله ۷,۱۸,۷) په دې کتاب کښې دا قبیله د پاکتاس (Pakthas) په نامه یاده شوې ده.



Pukhto.Net

تقویې د پاره د یونانی مؤرخ هیروډوټس[1]، جغرافیه دان بطلیموس کلوډیس[2] او یونانی جرنېل او سېلانی سکائی لاکس[3] د تالیفاتونه حوالې د دلیل په توګه وړاندې کوی.

دې درې واړو یونانیانو د پکتی، پکتین، پاکتی یس او پکتیان[4] په نامو د یو قام ذکر په خپلو تالیفاتو کښې کړے دے. دغه شان ئې د دې قام وطن په پکتیا او پاکتیا باندې یاد کړے دے. د هندوانو د زړو مذهبی کتابونو او د یونانی علماؤ د باندینی حوالو په بنیاد د څېړن کارو یوې ډلې دا نتیجه راویستې ده چې د هندی آریاګانو د درې بنیادی څانګو (۱) بهارته (۲) یدو (۳)پکتا کښې هم، پکتا د پښتنو لرغونی نوم دے[5]. د آریائی وړاندېز منونکی دوېمه ډله دا عقیده لری چې پښتانهٔ د تېر وختونو بخد قام دے. د بخد قبیلې او علاقې نوم په اوستا (پارسیانو مذهبی کتاب) کښې هم راغلے دے.

[1] هیروډوټس (٤٨٤ تا ٤٢٥ قبل مسیح) د پکت د وطن نوم په پکتیکا (پکتویک) یاد کړے دے، هغه د دې قام د ذکر په لړ کښې د دې قام وطن د دریائے سندھ غاړې په ګوته کوی.

[2] بطلیموس د پکت قبیلې وطن د پکتین په نامه یادوی. د دهٔ په وېنا د پکتیو وطن پکتین د پارو پامیزاد قطب (جنوب) ته موقعیت لری.

[3] د دارا د وخت امیرالبحر سکائی لاکس (۵۲۱ تا ٤٨٦ ق م) د پکت قبیلې وطن په پکتیا یاد کړے دے.

[4] هیروډوټس د پکتیان وطن د "اراکوسیا" په نامه یاد کړے دے.

[5] هندی اریا د "دیو" کلمه د مقدسې هستی د پاره استعمالوی خو پښتو ژبه کښې د یو د شېطان صفته ذات د پاره مستعمل دے. چې د دوی د دې عقیدې سره هم توپیر دے.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړومبی عرب مؤرخانو هم د بخد ذکر په خپلو تذکرو کښې کړے دے. دغه شان د دې پوهانو د څېړنو تر مخې پښتانهٔ د آریاؤ د باختری څانګې سره اړه لری. د دې طبقې پوهانو ته د پښتو ژبې نه هم تقویت ملاویږی. ځکه چې د دې ژبې تعلق په متفقه توګه ایرانی څانګې سره دے. چې کله مونږ د دې ټولو باندینۍ خبرو جاج واخلو نو د ژبې نه علاوه په ډېرو متقاضی امورو د دې وړاندېز دننی افتراق او معیار د مخزن افغانی وغېره نه هم کمزورے ښکاره شی[1]. مثلاً لرغونی هندی مذهبی کتابونو کښې د هندوستان د زړو غېر آریائی قامونو ذکر ډېر په اختصار او مجمله توګه شوے دے. بعضو څېړن کارو د آریاؤ د راتګ نه وړاندې په سندھ[2] کښې دوو لویو قامونو ذکر کړے دے. چې (۱) آسور[3] (۲) داسیو وو. دې دواړو قبائلو نه یواځې په ډاډه د آریاګانو مخ نیوی کړے وهٔ بلکې څو وارې ئې ماتې سره هم مخ کړی وو. خو بیا د وخت سره سره

[1] د پروفیسر پرېشان ختک په رائې "د تاریخ د پاره چې د کومو مواخذاتو ضرورت وی، هغه د دې نظریې په ډاډ کښې نهٔ ښکاری. محض په زبانی روایاتو او عمرانی قیاساتو ولاړ هغه تاریخ چې د منځ د زرګونو کلونو کړی ئې ورکې وی څنګه مستند وګڼلی شی"

[2] د "ډاکټر غلام علی الانا" د څېړنې تر مخې سندهی په بنیادی توګه غېراریائی ژبه ده. ډاکټر نبی بخش خان بلوچ د موهنجو داړو د لرغونی ژبې په بابله لیکی "د اثارقدیمه د موندلی شوی موادو او معلوماتو په بنسټ وئیلی شی چې د سندهـ لرغونه ژبه د یو سامی صفته ژبو د ډلې نه وه"

[3] د مسعودی په قول "د طوفان نوح نه پس په زمکه باندې د ټولو نه وړمبی سوریانو د بست، زمینداور او د غزنی په سیمو باندې واکمنی جوړه کړې وه، دوی د وطنونو د پولو تعین کړے وهٔ، اونې ئې لګولې وې، د دوی وړومبی باچا "سوشان" وهٔ. مروج الذهب از مسعودی



آریاګانو په دوی غلبه موندې وه. هم په دې وجه د هغه وخت راسې په هندوانو کښې د داس یا داسیو نوم د مرئ د پاره مستعمل راروان دے. خو د آسور قام پسوی ذکر هیڅ چرته نشته. دغه شان د رګوید د پکت په پښتنو باندې د اطلاق مونږ هیڅ قرینه نهٔ لرو. یعنی چې پکت د یو سړی نوم وهٔ کهٔ د باچا یا د قام. مونږ ته معلومه ده چې په هندوانو کښې د اوچت ذاتونو خلق تر اوسه د نورو آریاګانو په شان په خپله ژبه کښې د "خ" په ځاے "ک" وائی. خو سوال دا پیدا کیږی چې باوجود د یو ستر ذات آریائی قام نه پښتنو د کومو اثراتو لاندې خپل نوم د پکت په ځاے پښت کړو؟

تر څو چې د هیروډوټس د تالیف "تواریخ" ذکر دے. د خپل کتاب په وړومبی باب کښې دا مؤرخ لیکی "پاکتی یس د یو سړی نوم وهٔ د لودیا د قام نه، ساردس د لودیانو مرکز وهٔ". دا فاضل مؤلف د پکتیا خلق په اووم اقلیم کښې پکتویک او آرمینیان په دیارلسم اقلیم کښې هندیان په شلم اقلیم کښې لیکی او د پکتیا ځاے په آرمینیا کښې ذکر کوی. خو چې کله هیروډوټس د سکائی لاکس د مهم او د مخامنشیانو د خپلو ولایتونو نه د سالانه خراج ذکر کوی نو دغه وخت واضحه شی چې د وخت



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

چپاؤنو او د متن متفرقه بیاناتو د فاضل مؤرخ لیکنی د مطالبو د وینا په ترخ کښې بیخی کمزوری کړی دی. دغه شان چې کله مونږ په دغه تالیف کښې د سپو هومره غټو سړوی خورو مېږیانو قیصې ولولو نو دا تالیف د تاریخ نه د دیومالا (فرضی یا خیال قیصې) جوړه شی.

د آریائی نظریې ناقدان دا وینا هم کوی چې دې وړاندېز ته ۱۹۲۲ء نه پس هغه وخت شهرت ملاؤ شو. چې کله د افغانستان د باچا امان الله خان په وخت کښې د هغه یو وزیر فیض محمد خان په خپل تالیف کښې د افغانانو په بابله د آریا وړاندېز ذکر وکړو. او د دولت له خوا په سرکاری توګه د دې وړاندېز تائید وشو. داسې وئیلی کیږی چې د دې دولتی تائید مقاصد بهرنی اړیکی (خارجه تعلقات) او د چاپېرچل بین المللی تقاضې وې.

بهرحال زما په خیال آریائی وړاندېز د کوټلی تجزیې په معیار نهٔ سر ته کیږی تر څو چې د غربی څېړنکارو خیالات دی. په دغو کښې زیاترو د قیاس نه کار اغستے دے او د زمکنی حقائقو نه ئې ډډه کړې ده. دوی د افغانانو د قامی بنسټ، خوراک سخاک، دوددستور، د دوی په تسلسل سره د لرغونی مینو نه تدریجی انتقالات، عقائدو، نفسیاتو، د دوی د مینو د



Pukhto.Net

لرغونی او اوسنی نومونو یو شان والے، او په پښتو ژبه کښې د سامی ژبو د ټکو پنګې تر څهٔ حده نظرانداز کړی دی.

بحېثیت مجموعی د هیروډوټس د "تواریخ" حېثیت د تېرو وختونو د نورو تواریخو نه بدل نهٔ دی. بیا هم مونږ ته د تېرو وختونو د ټولو مؤرخانو او په خصوص سره د هیروډوټس مننه پکار ده چې د دوی د علمی ارزښتونو له کبله نن مونږ د دې قابل یُو چې د تېر وخت ننداره وکړو.

### پښتانهٔ مخلوط النسل دی:

کله چې د پښتنو د خونې په بابله د وړاندېزونو په مینځ کښې اختلاف زیات شو او دا حقیقت هم مسلمه شو چې هره ډله د دلائلو په بنیاد خپل نقطه نظر مخې ته راوړی. نو د څېړن کارو او ناقدانو یو ګوند د منځ لاره اختیار کړه او دا وینا ئې وړاندې کړه چې پښتانهٔ مخلوط النسل دی. د دې ګوند پوهانو مشر مولانا عبدالقادر ګڼلے شی. دوی نهٔ یوائې د پښتو اکېډمی مؤسس وهٔ بلکې د پښتنو په تاریخ، ژبه او ادب ئې هم ژور نظر لرلو. پوهان پریشان خټک (خدا ے بخښلے) هم د یو ځان له فکر سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې وړاندېز په ښنگ ښکاری. د دوی په خیال یو سپېڅلے پښتون گوند چې په خونه پښتون وهٔ د تاریخ په تتو ورځو شپو کښې د بلخ نه تر سلېمان غرهٔ پورې چرته نه چرته مینی لرلې. دغې گوند بیا په پراخه توگه د قبائلو شکل اختیار کړو. دا د هغه وخت خبره ده چې کله آریاگان په دې سیمو لا نهٔ وو مېشته شوی. دوی د پښتنو د خونې د څېړنې په بابله پښتونولۍ ته لوړ والې ورکوی. ځکه چې د دوی په وېنا دې ضابطې د اسلام نه هم وړاندې په دې قام کښې رواج لرلو.

کهٔ چرې غور وکړے شی نو د مخلوط النسل وړاندېز په گټه کښې د علمی درېځونو سره زمکنی حقائق هم موجود دی. د پښتون قام سره تړلې قبیلې لکه کمبار، کشار، ماندوری، طوری، گمر، وغېره نن د پښتونولۍ په امېل کښې د ملغلرو په شکل داسې پئېلی شوی دی چې په دې کښې د یوې ملغلری کمې زیاتې گویا چې د ټول امېل د ماتولو باعث گرځی. د کرمې توری خپله وائی چې مونږ په خېل کرلانی او په خونه ترک یُو. او د اسلام نه وړاندې مونږ بدها مذهب منونکی وو. مونږ وړاندې دا خبره لیکلې ده چې په ساکا قبائلو کښې د یوې قبیلې نوم توری وهٔ.



## پښتانهٔ بنی اسرائیل دی[1]:

د پښتون قام د خپل قامی او قلمی روایاتو تر مخې دوی دهغو اسرائیلیانو اولاد دی کوم چې د آشور او بابل واکمنو عراق او لرغونی پارس او میډیا ته په کډه کړی وو[2].

د تاریخ د کتنې نه دا حقیقت برسېره کېږی چې انسان په څهٔ نا څهٔ شکل خپل تېرو وختونو سره تړون ساتی. د بشریاتو پوهان هم د دغو انسانی نفسیاتو د څېړنو په رڼا کښې د قامونو د تېرو چپو ماتې کړې یو بل سره لگیځ. اصل کښې په زمکه د انسانانو د ابادۍ د خورېدو لویه وجه د دوی د (نقل و حرکت) فطری جبلت دے. د څېړنو تر مخې دا کډوالی په هر پنځوس کاله کښې په خپله واقعه کېږی. انسان د یو ځائے نه بل ځائے ته په کډه کېدو کښې چې چرته د نوی چاپېر چل اثرات قبلوی. هم هلته په لاشعوری توگه د خپلو تېرو ورځو شپو او مینو

---

[1] دا خبره چې د افغانانو اسرائیلی وړاندېز د مخزن افغانی د صاحب ایجاد دی، حقیقت سره سمه نهٔ ده. د مخزن نه مخکښې د دې درېځ لیکنه تذکرة الابرار والاشرار او تواریخ شیرشاهی کښې شوې وه. په دې بابله یو بله د قدر وړ حواله د ابوالفضل لیکنې دی، دې چې کله د ائین اکبری په دوېم ټوک کښې د گدو ولایتونو حال لیکی نو د افغانانو په بابله د دوی د اسرائیلی دعوې ذکر هم کوی.

[2] د یهودیانو لرغونی معبد چې کنډرات ئې په کابل کښې موجود دی، د یهودی دائرة المعارف په روایت د دې تاریخ د بخت نصر د زمانې دی. (پښتانهٔ از ډاکټر حبیب الله تژی)



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره خپل تړون هم په څهٔ نا څهٔ شکل نوی چاپېر چل ته راړوی.

د خپل تېر وختونو سره تړون ساتلو د پاره انسان ګڼې وسیلې پکار راولی. لکه د تېرو نیکانو نومونه خپلو بچو له کېښودل، نوې مینې د زړو مینو په نامو یادول، د نیکانو د مورنی ژبې تکی خپلې موجوده ژبې ته راړول. د پلار نیکهٔ مذهب او دوددستور له په مروجه مذهب او دوددستور کښې ځاے ورکول یا په څهٔ نا څهٔ شکل جاری ساتل.

د انسانانو دا فطری خوی د نوی کلتورونو په جوړېدو کښې او د تهذیبونو په وده کښې مهمه برخه اخلی هم دغه وجه ده چې د نن وخت څېړن کار د نورو سائنسی وسیلو سره سره دغه انسانی جبلتونه اوس هم په قامونو د څېړنې په لړ کښې پکار راولی. مونږ په مختصره توګه د اسرائیلیانو پېژندګلو او د دې قام د عروج او زوال جائزه لوستونکو ته وړاندې کوو.

د حضرت یعقوب علیه السلام اولاد ته بنی اسرائیل وئیلی شی. دوی د حضرت اسحاق علیه السلام ځوی او د ابراهیم علیه السلام نوسے وهٔ. حضرت ابراهیم علیه السلام په انسانی تاریخ کښې یو ستر مشر تېر شوے



دے. د دوی پلرنی وطن د عراق لرغونی ښار "اُر" وهٔ. دوی د "اُر" یو لوړ رتبه تېر سره تعلق لرلو. د "اُر" خلق د بتانو او د فطری مظاهرو د لمانځلو منونکی وهٔ. په دې وجه دوی په کوټلی دلائلو سره خپل قام ته د توحید باری تعالٰی بلنه ورکړه. کله چې د "اُر" بامبړان ابراهیم علیه السلام ته په دلائلو کښې پړه شو. نو دوی ئې د اُور په غرغنډو کښې وغرځول. خو ولې سختن دوی د هر قسم جانی او بدنی تلفاتو او سوځېدو نه اوځغورل. د دې واقعې نه پس ابراهیم علیه السلام د کور د یو څو افرادو سره ملک کنعان او مصر ته هجرت وکړو.

د ابراهیم خلیل الله د وړومبی تېر نوم سارا (بی بی) وهٔ. د سارا بی بی نه علاوه هاجره (بی بی) او قطوره (بی بی) هم د ابراهیم علیه السلام کوروداني وې. د سارا بی بی اولاد په بنو اسحاق، د هاجرې بی بی اولاد په بنی اسماعیل او قطورې بی بی او په بنو قطوره سره شهرت لری. بنو اسحاق د فسلطین او د دې په خواوشا زمکو، بنو اسماعیل د فاران په سحرا[1] کښې او بنو قطوره په شرقی وطن مېشته شوی وو. د حضرت ابراهیم علیه السلام فضائل او مراتب بې حسابه دی. تاسو په ابوالانبیاء، د

[1] پیدائش ب ۲۱ ابه۲۱ + پیدائش ب ۲۵ ابه ٦ (تورات اُردو)



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

لویو قامونو پلار او د خلیل الله په درنو نومونو سره مقلب ئي.

د حضرت اسحاق علیه السلام دوه ځامن وو. (۱) عیس (۲) یعقوب علیه السلام

د عیس اولاد په ادومیانو مشهور وهٔ.

د یعقوب علیه السلام څلور بیبیانې وې، په دوی کښې "لیا" او "راخل" زوجاتې وې. او بلها او زلفه ئې اُم ولد[1] اینځې وې. د دوی ټول دولس ځامن وو چې نومونه ئې په لاندینی ډول دی:

د لیا نه: (۱) روبن (۲) شمون (۳) لاوی (٤) یهودا (٥) اشکار (٦) زبولون

د راخل نه: (۱) یوسف (۲) بن یمین

د بلها نه: (۱) دان (۲) نفتالی

د زلفه نه: (۱) جد (۲) آشر

د حضرت یعقوب علیه السلام په ټولو زامنو کښې د حضرت یوسف علیه السلام سره زیات محبت وهٔ. حضرت یوسف علیه السلام په خپل کوچنوالی کښې د خپلو رونړو د ناروا سلوک او بیا د مصریانو د لاسه د کڼې ازمېښتونو او د بندی توب د کشالو په رونړ تندی او ډاډ

[1] هغه وینځه چې د بچو راوړلو نه پس ورته د وینځې توب نه خلاصی ملاو شی.



زېږۀ د مخاوی نه پس چې کله د نبوت او امارت په لویو مراتبو فائز شو نو په دغه وخت د پاکې خورې په وطن د قحط له کبله ئې خپل ټول رونړه او پلار راوبلل او د مصر په غواړه علاقه "جشن" کښې ئې اباد کړهٔ. د وخت سره سره مصریانو د نسلی عصبیت لاندې آل یعقوب علیه السلام مریان وګرځول. آخر څلورسوه دېرش کاله پس دې قوم د موسیٰ علیه السلام د مشرۍ لاندې د مصریانو نه خلاصے بیا موندهٔ. بیا د موسیٰ علیه السلام خادم یوشع بن نون د اسرائیلیانو د لارتګ د پاره قاضیان وټاکل. دور قضا کم و زیاته څلورسوه پنځوس کاله وه. د حضرت سموئیل علیه السلام په وخت کښې د آل یعقوب په تینګار د بن یمین قبیلې نه ساول المعروف ملک طالوت د دې قام باچا مقرر کړو. د ملک طالوت نه پس حضرت داؤد علیه السلام د نبوت و خلافت په چارو سرفراز شو. د حضرت داؤد علیه السلام نه پس حضرت سلیمان علیه السلام ته نبوت او بې مثله او منفرده باچائی اوبخښلې شوه.

د سلیمان علیه السلام نه پس د هغوی ځوی رحبعام باچا شو. د دهٔ په واکمنۍ کښې یربعام افرائمی دنورو لسو قبیلو په ټرون د اسرائیل په نامه د یو جدا دولت بنسټ کېښودو بل طرف ته رحبعام خپله یهودیه



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

قبیله او بن یمین قبیله په سیاسی توګه یو کړه او دغه شان ئې د یهودا دولت په نوم خپله واکمنی قائمه کړه. د یهودا دولت پلازمینه یروشلم او د اسرائیل سامریه وه. په ۷۷۱ ق.م. کښې آشوریانو په اسرائیله یرغلې شروع کړې. د ۷۳۲ق.م نه ۸۳۲ق.م پورې د نفتالی، جد او روبن قبیله په پوره توګه او د منسی قبیله نیمائي بې وطنه کړه. او دا دواړه ئې د خلخ، خابور، هاران او د جوزان[1] د خوړ په زمکو مېشته کړې[2]. په ۷۲۲ق.م. کښې د تګلاتهه جانشین شلمانصر اسرائیلی ریاست له ماتې ورکړه. او پلازمینه سامریه ئې ګېره (محاصره) کړه. په دغه محال ئې د مقبوضه سیمو ټول اسرائیلیان آشور ته بې کوره کړهٔ[3]. په ۷۲۲ ق. م. کښې د شلمانصر د مړینې نه پس سرګون II د آشور باچا شو. هغه د سامری د فتح نه پس شاه اسرائیل هوسیع په بندی حال آشور ته ولېګلو. بقایا ټول اسرائیلیان ئې بې کوره کړل او په خلخ، خابور د جوزان په خوړ او د مادیانو په سیمو کښې ئې مېشته کړل[4]. د اسرائیلی

[1] دې خوړ ته په پښتو او فارسی کښې امو، عربی کښې جیحون او انګرېزی کښې Oxus River وائی، د ساسانی واکمنی په مهال امو په ویهه رود معروف وهٔ، د عربی جیحون د ګیحون نه معرب دے، د یهودی مؤرخ موشے جل مطابق ګوزان دریائے بلخ (امو) دے.

[2] تواریخ ۱ ب٥ ایه ۲٦ + سلاطین ۲ ب ۱٥ ایه ۲۹ (تورات اُردو)

[3] سلاطین ۲ ب ۱۸ ایه ۱۱

[4] سلاطین ۲ ب ۱۷ ایه ٦



واکمنۍ د نسکورتیا نه پس دا لس قبیلې چرته هم بېرته رانغلې[1]. ځکه چې سرګون د دوی په سیمو باندې نورې قبیلې مېشته کړې وې[2]. د دې وجوهاتو له کبله د لسو وروکو قبیلو د روایت آغاز وشو. د سرګون دوم نه پس سنخریب باچا شو. د هغه د قتل نه پس په آشوری واکمنی د مخ په ښکته تلو آثار شروع شول. آخر په ٦۱٦ق.م. کښې د بابل او میډیا ټل لښکرو د آشور په دولت یرغل وکړو او د داسې ماتې سره ئې مخ کړو چې دا لوے دولت محض د تېر وخت یوه قیصه پاتې شوه. د خپل عروج په وخت آشوری دولت د مصر د پولو نه واخلې تر اېشیاء کوچک پورې او د فارس او میډیا نه اخوا تر سیهند[3] پورې واکمنی لرله. بابلیانو هم د آشوریانو په څیر د نیولو شوو سیمو یهودیان په آزار اوساتل. په ٥۹۷ق.م. کښې بخت نصر د ستر سالار په حېث په یروشلم یرغل وکړو. په واپسۍ کښې ئې شاه یهودا په زنځیرونو تړلے ځان سره بابل ته بوتلو[4]. د یهویقیم نه پس د یهویاکین په واکنۍ کښې بخت نصر بیا په یروشلم یرغل وکړو. دې وارې بخت

[1] سلاطین ۲ ب ۱۷ ایه ۲۳

[2] سلاطین ۲ ب ۱۷ ایه ۲٤

[3] دا سیهند موجوده صوابی والا هنډ نه دی.

[4] تواریخ ۲ ب ۳٦ ایه ٦



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

نصر د شاهي کورنۍ سره ۸ زره سپایان، سرداران او هنرمند ځان سره جبري بابل ته بوتلل[1]. د یهویاکین د جلاوطنۍ نه پس صدقیاه باچا شو. څهٔ وخت پس چې صدقیاه هم منحرف شو نو بخت نصر په یروشلم د یو لوی لښکر سره حتمي یرغل وکړو. د یو کال د محاصرې نه پس چې کله یروشلم ماتې وخوړه نو د صدقیاه د وړاندې ئې د هغه بچي ذبح کړل. بیا ئې هغه ړوند کړو او په زنځیرونو تړلی ئې سره د ټول ښار د خلقو بابل ته جلاوطنه کړو. بابلی لښکرو د یروشلم خزانې ووهلې. او ښار ئې لوټې لوټې کړو[2].

بیا وروستو ۵۳۹ق.م. کښې چې کله لوے سائرس[3] بابلیانو له ماتې ورکړه نو هم په هغه کال ئې بې وطنه یهودیانو ته د یروشلم د تلو اجازت ورکړو. دغه شان ۷۰ کاله شاړ پاتې کېدو نه پس یروشلم بیا آباد شو. خو د اسرائیلیانو اکثریت وطن ته د واپس تلو په ځاے د سائرس په خورې ورې واکمنۍ کښې مېشته کېدل غوره کړل[4]. د سائرس په باچائۍ کښې ۱۲۷ ولایتونه وو. دهغه ملکه

[1] سلاطین ۲ ب ۲٤ ایه ۱۰ تا ۱۷
[2] سلاطین ۲ ب ۲۵ ایه ۲ تا ۱۱
[3] د سائرس ګڼ نومونه دی، لکه ذوالقرنین، کوروش اعظم، سکندر وغېره
[4] استر ب ۳ ایه ۸



آسترد د بني اسرائیلو د بن یمین قبیلې نه وه. د آستر ترهٔ مردکي د سائرس په دولت کښې مهمه څوکۍ لرله[1]. د سکندر په باچائۍ کښې د اسرائیلیانو سیاسي مرتبه تر دې حده رسېدلې وه چې په ټولو ولایتونو کښې خپل اویا زره دښمنان د سکندر په اجازه قتل کړي وو[2].

د بابلیانو د اویا کاله غلامۍ وخت نه واخلې د هخامنشیانو د واکمنۍ تر اشرافیې پورې اسرائیلیانو د خپلې ژبې سره سره د مذهبي او کلتوري ژوند په ټولو اړخونو بدلون اختیار کړے وهٔ[3]. د دې تغیراتو د مخ نیوی د پاره د دوی روحاني او قامي مشرانو دوه ډوله فعالیتونه اختیار کړي وو. هغه ډله چې په یروشلم کښې بیا سره مېشته شوه. د دغو بدلونونو ئې په شدت سره غندنه وکړه او د احیاء مذهب په لار ئې قامي ژبه او دوددستورونه بیا رواجي کړهٔ. بل طرف ته هغې ډلې چې یروشلم ته د بیا راتلو په ځاے ئې خپل مسکونه وطنونو کښې اوسېدل غوره کړهٔ، دوی قبائلي تقسیم د منځه یوړو او د بني اسرائیلو په نوم ئې ټول وګړي مجتمع کړهٔ. دغه شان دوی د خپل قامي وطن نه د لرې والي له کبله خپلو بچو او نوی

[1] استر ب ۸ ایه ۹
[2] استر ب ۹ ایه ۱٦ تا ۲۰
[3] نحمیاه ب ۱۳ ایه ۲٤ + عزرا ب ۹ ایه ۱ تا ۲



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېشته زمکو له د خپلو وړ نيکونو او لرغوني وطنونو نومونه کېښودل شروع کړۀ. سره د دغو اقداماتو ئې کلتوری او مذهبی روايات هم نوی کول ته په ګډ صورتونو سپارل شروع کړل.

چې کله مونږ د باندنی بحث په رڼا کښې د پښتنو د تهذيبی اقدارو جاج اخلو نو لا محاله راته د اسرائيلی وړانديز سپېځلې حقانيت په ډاګه شی[1]. په دې لړ کښې دې ويونکی لاندينی بېلګی د نظر وړاندې کړی.

د لرغونی وخت اسرائيلی نومونه چې تر دې دمه په پښتنو کښې مروج راروان دی.

(۱) شمون (۲) ساول (۳) ميشک (٤) ايتمر (٥) کودی
(٦) ايلم (۷) ايمل (۹) لودی (۱۰) ګمرياجمر
(۱۱)سينی (۱۱) شلمان

[1] د لکهنؤ پوهنتون ډاکټر نورس افريدی د مليح اباد (انډيا) په خصوص سره د افريدی قبيلې او په عموم سره د نورو پښتنو قبيلو جينياتی ټسټونه اغستی وو. د دې ټسټونو نتائج د يهوديانو د اشکنازی څانګې سره 68.1 فيصد په تناسب سره مطابقت ښکاره کړے وهٔ. دا تناسب د دنيا د هر قوم نه زيات دے. (روزنامه ټائمز اف انډيا 2009-06-07 په حواله د وکی پيډيا)
د اسرائيليانو قامی او مذهبی ټوپی چې يرملکی Yarmulki نوميږی او ورته Kippah هم وائی، د افريدو د قامې ټوپی سره مکمل يوشان والے لری. دا حقيقت هم دلچسپی نه خالی نهٔ دے چې څنګه پښتانهٔ د وادهٔ سړی په پالنک خېژوی هم دغه شان اسرائيليان هم د وادهٔ سړی په پالنک خېژوی.



دغه شان پښتنو د لرغونی اسرائيلی وخت ځايونو يا د هغو په بابله تاريخی حوالې هم په څهٔ نا څهٔ ډول خپل کلتوری ژوند کښې په ښکلی طريقه ژوندی ساتلی دی. د پښتنو د خپل نسلی اصالت نه دغه تاريخی لړی په بل مخ جدول کښې ملاحظه کېدے شی.



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

| نوم | د لرغوني اسرائیلي تاریخ سره اړوند | معنی | د پښتنو تاریخ سره اړوند |
|---|---|---|---|
| کرک | د غرب اُردن د یو علاقې نوم | مړز | د خېبر پښتونخوا د قطبي سیمې د یو ځاے نوم |
| سدوم | د اسرائیل د یو مشهور ریاست نوم | د ځاے نوم | د خېبر پښتونخوا د مردان ډویژن د یو ځاے نوم |
| بشام | په عهد اسرائیل کښې د شام د یو قلعه نوم وهٔ | د ځاے نوم | د خېبر پښتونخوا په قطبي برخه کښې د یو ځاے نوم |
| خېبر | په عهد رسالت کښې د یهودو د مرکز نوم وهٔ | د ځاے نوم | په خېبر پښتونخوا کښې د یو ځاے / ایجنسۍ نوم |



| | | | |
|---|---|---|---|
| ګدر[1] | د لرغوني عراق د سامي ژبې ټکے دے | د دوو سیمو منځ کښې حد فاصل | د کاټلنګ (خیبرپښتونخوا) سره نزدې د یو کلي نوم دے. |
| اُرمیه[2] | په لرغوني میډیا کښې د یو ډنډ نوم وهٔ | د ځاے نوم | د افغانانو مشهوره اُرمړ قبیله |
| میانه[2] | په لرغوني میډیا کښې د یو ښار نوم، دې ته به ئې میانج هم وئیلو | د ځاے نوم | د یوې افغاني قبیلې نوم |
| صافي[2] | په لرغوني میډیا کښې د سهند غرنه وتلي یو دریاب نوم | د ځاے نوم | د افغانانو د یو قبیلې نوم |

1 عبرانی کښې Gader د سرحد او باړ په معنیٰ باندې دے.
2 جغرافیه خلافت مشرقی از جی لی سترنج



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| اسمار | د آشوري (بابلي) ژبې يو ټکے | جنګي وسله | په کنړ کښې د يو ځاے نوم |
| قراقر | د عراق او شام په پوله د يو غر نوم | د ځاے نوم | کړاکړ د بونير او سوات په پوله د يو مشهور غر نوم دے |
| سوراء | بغداد (عراق) لرغونى نوم | د ځاے نوم | په دغه نوم د بونير په علاقه کښې د يو ځاے نوم |
| خوست | د لرغونى مېډيا په جبال ولايت کښې د يو ځاے نوم | د ځاے نوم | د افغانستان د يو مشهور ولايت نوم |
| شال | د لرغونى مېډيا يو ښار | د ځاے نوم | د غزنوي وخت د افغانانو د يو مرکز نوم وۀ |
| مراغه | د مېډيا د يو خوشګوار ښار نوم وۀ | د ځاے نوم | د پښتنو غوړه مرغۍ سره مشابهت |



| | | | |
|---|---|---|---|
| ايلم | په اسرائيل کښې د يو ځاے نوم | د ځاے نوم | په سوات کښې د يو مشهور غر نوم دے |
| بتهانی | په عهد قديم کښې د يروشلم په شرقى غاړه د کوه زېتون په لمنه کښې د يو ځاے نوم وۀ | د ځاے نوم | د افغانانو بېټنۍ قبيله |
| پاوۀ[1] | د حدر (شاه ادوم) د يو ښار نوم وۀ | د ځاے نوم | شېرپاوۀ د افغانانو د يوې قبيلې ذيلى خيل نوم |
| جمند | د کرمان سهيلي شرقي طرف ته د منوجان ښار د يوې حصې نوم | د ځاے نوم | د افغانانو په سربڼ ښاخ کښې د مند د ورور نوم |

[1] پيدائش باب ۳۶، ايه ۲۹ (تورات)



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| پتوم [1] | په عهد فراعنه کښې د څېزونو کېښندلو د ځای نوم | نوم | پټ (اسم صفت) په دېوالونو کښې ګېر هغه ځای چې چت پرې اچولی شوی وی.[2] |
| میمنه [3] | په عهد وسطٰی کښې د دې نوم الیهودیه وهٔ | د ځای نوم | د افغانستان د یوې منطقې نوم |
| الغور | تهامه (عرب) ته الغور هم وئیلی شی | د ځای نوم | د افغانستان د یو ولایت نوم |
| پشت [4] | دا په کوهستان (لرغونی میډیا) په غر کښې د یو ځای نوم وهٔ | د ځای نوم | د روایت تر مخې په دې دواړو علاقو کښې اسرائیلیان ډېره موده اباد وهٔ |

[1] خروج باب ۱ ایه ۱۲ (تورات)
[2] دریاب (پښتو لغت) مؤلفین قلندر مومند، فرید صحرائی
[3] جغرافیه خلافت مشرقي
[4] دا نکته ډېره مهم ده، باید په دې بابله نوره څېړنه د پښتنو په بابله نوی انکشافات تر لاسه کړی.



Pukhto.Net

| | | | |
|---|---|---|---|
| تون | د پشت سره نزدې د کوهستان د یو ښار نوم وهٔ | د ځای نوم | ایضاً |
| وادی اشکول | په عهد موسٰی علیه السلام کښې د حبرون سره نزدې د یو ځای نوم وهٔ | د ځای نوم | دانشکول د پښتونخوا د یو معروف او لرغونی ځای نوم دے |
| بابل [1] | له دې مقام نه انسانان د ژبو د تفاوت له کبله جلا جلا په زمکه خوارهٔ شوی وو | د ځای نوم | پښتو کښې بل بل یا بېل بېل د جلا جلا په معنٰی مستعمل دی |

[1] پیدائش باب ۱۱ ایت ۹ (تورات)

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| انبار[1] | د بغداد په غربي طرف د دریاب په غاړه آباد یو لرغونے ښار/ د بلخ سره نزدې د یو ښار نوم | د ځاے نوم | په باجوړ کښې د یو ځاے نوم، په دغه نامه په صوابۍ کښې هم یو ځاے دے |
| بولان | د بصرې (عراق) په لاره د یو ځاے نوم دے | د ځاے نوم | په صوبه بلوچستان کښې د یو ځاے نوم |

[1] انبار عبرانی ژبه کښې د عطارد سیارې نوم دے.



Pukhto.Net

| | | | |
|---|---|---|---|
| کابل | د میرمحمد غبار د څېړنې تر مخې د کابل بنیاد په ۷۷۰ق م کښې آشوری بادشاه شلمانصر اېښودے وۀ. | د ځاے نوم | د افغانستان د پلازمینې نوم<br>ابن حوقل ۲۳۱ھ په خپل تالیف صورة الارض کښې لیکلی "او په دې ښار (کابل) کښې کافران او یهودیان مېشته وو" |
| نوشته دیوار[1] | Mene, Mene Tekal, u, Phersin | مشهور متل | په دې فرمان کښې چې د تکل کومه معنیٰ ده هم په دغه معنیٰ په پښتو ژبه کښې دا تکے د "تکل"[2] په شکل نن هم مستعمل دے. |

[1] منے الله ستا د واکمنی حساب ولګولو او ختم ئې کړو. تکیل: تهٔ په اندازه غلط اوختې، اوفېرسن: ستا سلطنت تقسیم کړے شو او فارسیانو له ورکړے شو. دوست محمد خان کامل تاریخ مرصع (نوټونه) از افضل خان خټک

[2] د تکل معنا اراده، کوشش، تلاش، لټون (دریاب پښتو لغت، مولفین قلندر مومند، فرید صحرائی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| اله | دا نوم په سامي ژبو کښې د لرغوني وختونو نه د "سختن" د پاره وضع راروان دے | د اله د ټکي معنیٰ مقصوده ، تحیر او مافوق الادراک ده | آله، په پښتو ژبه کښې د تعجب کلمه ده |
| صلاله | د عمان (وطن) د یو مشهور ځائے نوم دے | د ځائے نوم | سلاله په مهمند ایجنسۍ کښې د افغانستان او پاکستان په پوله مشهور کلے دے |
| زاب کلاں زاب خورد | د آشوریانو سیمه، دجله دریاب او د هغه معاون دریابونه د زاب کلاں و خورد په منځ کښې بهیږی | د ځائے نوم | ژوب (بلوچستان) کښې د پښتنو مشهور ښار |



دغه شان د پښتنو په اولسی رسمونو، روایتونو او د ژوند په نورو تګ لارو کښې هم مونږ ته په خصوصی توګه د سامی تهذیبونو نخښې نښانې په نظر راځی. لکه د یهودو په مذهب کښې د هفتې ورځ ته "سبت" وائی. په دغه ورځ د ژوند هلې ځلې خصوصاً په معاشی چارو بندېږ وی. بل طرف ته پښتانهٔ هم دغه ورځ ته "خالی" وائی. دا ټکے د خپل ساده ساخت او معنی په وېنا کښې د تنوع په وجه په ډېرو ژبو کښې مستعمل دے.

دلته د "سبت" د مفهوم او د دې ټکی په معنی کښې یو شان والی ښکاره دے. لکه چې د "سبت" ورځ د خپلو احکامو په وجه د امروزه ګنو هلو ځلو نه خالی وی.

دغه شان به د بابلیانو د ونۍ ابتدا د بدھ د ورځې نه کېدله. پښتانهٔ دغه ورځ ته شروع وائی یعنی ونۍ لکه چې د شروع د ورځې نه شروع کیږی.

د بنی نوع انسان په لویو مراتبو کښې یو د تکلم صفت دے[1]. دا هغه مهم اړوند دے چې مونږ پرې د خپل مافی الضمیر او احساساتو وائینه کوو. په اصل کښې د یو قام ژبه نهٔ یوائځے د الفاظو ټولګی وی، بلکې هغه مونږ ته د

---

[1] په دې وجه د ارتقائی وړاندېز څېړن کار هم د دې دریځ منونکی دی چې د ژبې په لار ارتباط د نوع انسان خاصه ده.



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه قام د ارتقائی سفر او کلتوری او تمدنی اړخونو پوره پېژندګلو هم راکوی. د انسانی تاریخ په وړومبو کښې به د هر نسل یوه مخصوصه ژبه وه. خو بیا د ګڼ نسلونو د اختلاط او د نوی قامونو د جوړېدو په وجه د ژبو دې تخصیص د تعمیم شکل اختیار کړو. د نسلی اختلاط نه علاوه د دې نورې هم ډېرې وجې وې. د بېلګی په توګه د انسانانو د یوې سیمې نه بلې سیمې ته کډه والے. د دولتونو لوړوالے او ټیټ والے، معاشی هلې ځلې، د نوی مذهبونو اثرات او د موسمی تغیراتو غوندې عواملو د نسلی ژبو د مړینې یا نسکورېدو او د نوو ژبو د ودې او پرمخ تګ د پاره حالات تصفیه کړل.

د ژبو[1] نوو پاهانو ټولې ژبې په اتو لویو ټبرونو کښې وېشلی دی. دوی دا تقسیم د مشتق ټکو، اوازونو او ګرامر په بنسټ کړی دی. لاندې د دغو اتو ټبرونو نومونه د نظره کړئ.

(۱) سامی (۲) انډو یورپی (۳) هندچینی (٤) دراوړی
(٥) مونټېرا (٦) امریکی (۷) ملایا (۸) بانتوا

[1] نوی څېړن کار په دې حقیقت تقریباً یو دی چې لفظ اریا د ژبوی ډلو نمائندګی کوی نه چې د نسل.



په باندنی وېش کښې سامی ټبر د نورو ژبو په څېر په ګنو ژبو مشتمل دے. چې پکښې آشوری، فینیقی، سریانی، عبرانی، قبطی، عربی وغېره نوموړی دی. د ژبو دا ټبر عموماً د سامی نسل د ژبو نمائندګی کوی. دغه شان انډویورپی ټبر د آریائی ژبو نمائندګی کوی. د دې ټبر دوېم نوم انډوجرمینک دے. دا ټبر په وړومبی توګه د ټکو او مخارجو د وېنا په لحاظ سره په سنتم او سیتم وېشلی شوی دی. سنتم په لاطینۍ ژبه او سیتم په سنسکرت ژبه کښې سلو (عدد) ته وائی.


د دې ټبر دوه بنیادی ولقې دی:
(۱) انډوآریا (د دې ۲۱۹ څانګې دی)
(۲) انډو ایرانی (د دې ۸٤ څانګې دی)
په جغرافیائی توګه د انډوایرانی ولقې دوه څانګې دی:
(۱) شرقی (۲) غربی
شرقی څانګه ئې په دوو ذیلو وېشلې ده:
(۱) شمالی شرقی (۲) جنوبی شرقی

ژبپوهان د پښتو ژبې اړوند د جنوبی شرقی څانګې سره ګڼی. دلته دا د خپلې ګاونډی (پامیری) برعکس یواځې ده. د دې نه د دې ژبې لرغونتوب او پښتون قام سره د خصوصی تړون ښوونه په خپله برسېره کېږی.



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library




باندینی نقشه د نوی ژبپوهانو د علمي زیارونو نچوړ دے

---

[1] دا خالص یهودي وېنا (لهجه)ده. د دې ویونکي اسرائیلیان د "بک" په نامه بللی شي.
[2] دا اورمړي ژبې غربي څانګې سره تعلق د دې خبرې واضح دلیل دے چې د پښتنو مختلفو قبیلو په مختلفو ادوارو کښې په مختلفو مقاماتو ستوګنه کړې ده. (اثرجان)



Pukhto.Net

په دې کښې شمالي وېنا په پښتو (پختو) پېښاورۍ او یوسفزۍ وېنا بللی شي. جنوبي وېنا ئې په پښتو (پشتو) او کندارۍ وېنا په نامه یادیږي. د وانیڅي متبادل نومونه چلګري او ترنیوده. دا اوویا فیصده جنوبي، درې شپېتۀ فیصده نورو وېناګانو او ۲۷ فیصده اورمړۍ سره اړه لري. دغه شان منځنۍ وېنا په میستۍ (محسودۍ) وېنا پېژندے شي.

د انډو یورپي ډلې د غربي څانګې شمالي غربي ذیله کښې اورمړۍ ژبه د افغانانو د اورمړ قبیلې ده. د دې ژبې متبادل نومونه برکي او برګسته دي.

په ښکاره د دې څېړنزې نقشې نه پښتو ژبه د آریائي ژبو په ډله کښې په یو لوړ مقام برسېره کیږي. خو غوره به وي چې مونږ د دې ژبې په بابله د شرق او غرب د هغه ژبپوهانو تبصرې هم رانقل کړو. د چا د څېړنو له کبله چې د دې غشتلي قام د قامي ژبې په بابله د قدر وړ علمي پنګې په ډاګه کیږي.

نوموړی انګرېز څېړن کار او تاریخ دان الفنستن د پښتو ژبې په بابله لیکي " د دې ژبې اصل په آسانۍ سره نۀ معلومیږي. د دې د پیللو ټکو (ترکیبي الفاظ) لویه برخه د یو نامعلومه ماخذ نه برسېره کیږي. په دې کښې زیاترې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ټکی شامل شوی دی چې هغو به د خیزونو د اظهار د بنیادی اړتیا له کبله د دې قام د مورنۍ ژبې اجزاء سنجول وی".

وړاندې لیکی "په هغه دوه سوه اتلس ټکو کښې چې مائې مخامتیا د فارسۍ، ژند، پهلوۍ، هندوستانۍ، عربۍ، آرمینۍ، جارجینۍ، عبرانۍ او د شالډیک ژبو ټکو سره اوکړه. ما ته پکښې یو سل اولس داسې ټکی ملاؤ شو چې هغه ما د یوې ژبې سره هم مماثل او نهٔ ګڼل بلکې هغه ځان له او حقیقی لګی"[1].

د پښتو ژبې نامتو څېړنکار دوکتور خیال بخاری په خپل تصنیف "پښتو صرف ونحو" کښې دا ژبه (پښتو) د ټکو په لحاظ سره آریائی او قواعدو په لحاظ سره د سامی ژبو په څیر بولی[2]. د دکتور مارګن سټېرن مطابق "کېدے شی پښتو ژبه د ساکا ژبې یوه وښا وی خو وضاحت ئې مشکل دے"[3].

دوکتور ټرومپ وائی "پښتو یوه هندی آریائی ژبه ده خو خالص هندی هم نهٔ ده ځکه چې د تېرو وختونو

[1] په حواله د پښتو ادبیاتو تاریخ .از پوهاند عبدالحئ حبیبی

[2] په حواله د "پشتون کون" از پروفېسر پرېشان خټک

[3] پروفېسر ارنلډ جے ټائمبی د دې وړاندېز په ثبوت کښې دلیل ورکوی چې د فارسی "دال" په پښتو کښې په "لام" سره بدلیږی لکه "پدر" نه پلار، دیدن نه لیدل، دختر نه لور (په حواله د پشتون کون پرېشان خټک)



Pukhto.Net

راسې دې د خپل وجود د ساتنې سره سره د هندی او ایرانی ژبو په مینځ کښې د یو کړۍ په توګه ځان ساتلے دے"[1].

شیلی ډیور "د موازناتی لسانیاتو اجمال" مرتبه ۱۸۵۳ء کښې پښتو د ایرانی ژبو په لړ کښې بیانوی. خو سره د دې، د دې حقیقت یادونه هم کوی چې دې ژبې ځان له یوه خاص او نوې انکشافی لاره خوښه کړې ده.


په دې لړ کښې د راوړتې تجزیه یقیناً ځان له او د حقیقت سره زیاته نزدې ده. "د پښتو د ژبې د اصلیت او بنیاد په بابله د وښا ګانو توپیر د هغو نه کم نهٔ دی کوم چې په خپله د پښتنو د اصلیت او نسب په بابله دی". مخکښې لیکی "د پښتو ژبې د افعالو او ضمائرو د خصوصیاتو او بعضې نورو خبرو نه دا ظاهریږی چې دا یوه لرغونۍ عجیبه ژبه او د ټولو ژبو نه جلا ده".

د ژب پوهانو د باندینی تجزیو نه د پښتو ژبې د قدامت او لوړتیا اندازه په ښهٔ ډول کېدے شی.

[1] په حواله د "پشتون کون" از پروفېسر پرېشان خټک" د دې دریځ اظهار جیمز ډارمستېټر هم کړی دی لیکی "بلکې دا ژبه د ژند (اوستا) یا د یوې بلې ژبې سره چې ژند ته ورته والی لری ډېر مشابهت لری" په حواله د پښتنو ادبیاتو تاریخ از پوهاند عبدالحی حبیبی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په خیال ډېره به غوره وی چې مونږ دا ژبه د انډو ایرانی ولقې یو حصه ګڼلو په ځای د انډو یورپی ولقې مرکزی حصه وګڼو یعنی:






مونږ د دې خپل وړاندېز په لړ کښې لاندینی نکات لوستونکو ته وړاندې کوو. او ورپسې د پښتنو د نسلی اصالت په بابله یو نوے موقف د څېړن کارو پاملرنې د پاره قلم ته سپارو:

**"د پښتو ژبې خصوصیات"**

(۱) پښتو ژبه کښې مشدد ټکی نۀ وی، لکه بتی نه بتی.

(۲) پښتو کښې یو حرکت، حرکت مخصوصه دے چې "زورکے" نومیږی. دا د زبر او پیښ په منځ کښې دے لکه هل، شل

(۳) پښتو کښې وړومبی په ساکن سره کیږی لکه سپور، شکور (یو ساکن) نندار (دوه ساکنه)

(٤) پښتو کښې "ف" په "پ" بدلیږی لکه فقیر نه پقیر، دغه شان د با اواز هم په "پ" سره بدلیږی لکه ګلاب نه ګلاپ، کباب نه کباپ

(٥) پښتو کښې خالص عربی او فارسی اوازونه لکه "ق، ف ، ع، ج، ص" نشته.

(٦) د پښتو ټکی (ډ ، ټ، ړ، ټهه ، نړ) نۀ ایرانی ژبه کښې شته نۀ فارسی کښې.

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۷) د پښتو معکوس اوازونه (ټ، ډ) په نوی فارسۍ کښې نشته.

(۸) د هندۍ ژبې په حروف تهجی کښې د "غ" اواز نشته او اهل ایران د "ډ" او "ړ" سره بلد نه دی، خو په پښتو کښې داسې ډېر ټکی شته چې د "غ" سره "ټ" یا "ړ" یو ځاے راځی لکه "غټ" "غړپ".

(۹) د ټکو او مخارجو په لحاظ سره هند یورپی سرچینه په دوو برخو کښې وېشلې شی. (۱) سنتم (۲) سیتم دلته پښتو د انډوایرانی ولقې نه اوځی او په انډو آریائی ولقه کښې ورګډه شی.

(۱۰) د پښتو ژبې د بلنې اوازونه (حروف ندا) د سامی ژبو سره اړه لری لکه یا، ای، آ

(۱۱) "ت" په عربۍ کښې ضمیر د مخاطب دے. لکه ضربتَ کښې "ت" هم په دغه معنی کښې دا ټکی په پښتو کښې هم مستعمل دی.

(۱۲) "ها" دا ټکے په عربۍ کښې د اسم اشارې سره لګی چې مقصد ئې مخاطب ته په مشارالیه باندې وېختیا یا تنبیهه وی، لکه ذا نه هذا دغه ټکی په



پښتو کښې هم په دغه معنی مستعمل دی. لکه
هغه = ها + غه

(۱۳) "ها" په عربۍ کښې اسم فعل دے، په معنی د "ته او نیوه" په پښتو کښې دا لفظ د نون غنه سره مستعمل دے، لکه هن (واخله)

(۱۴) "وی" په عربۍ کښې اسم صوت دے، چې د تعجب یا مذمت په وخت د خلې نه اوزی. تقریباً په دغو معنو کښې په پښتو کښې هم مستعمل دے.

(۱۵) "مهٔ" اسم فعل په معنی د امر حاضر دے، معنی ئې "کلارشه تهٔ" ده، پښتو کښې هم دا کلمه په دغو معنو کښې مستعمله ده.

د باندینی نکاتو[1] او د تېرو صفحو د تجزیو او جدولونو نه دا حقیقت په ښهٔ توګه په ډاګه کیږی چې پښتو ژبه اګرچې د ساخت په لحاظ سره خو انډویورپی ده خو دا د لرغونی سامی ژبو سره ډونګ اړوند لری. چې کله مونږ د دې سپېڅلی وېنا د وئیلو اعاده کوو چې افغانان په خونه بنی اسرائیل دی، او پښتو د دې قام ژبه ده. نو دا

[1] د دې نکاتو نه د هغه غېرجانبداره څېړن کارو دریځ ته هم مزید تقویه ملاویږی چې پښتو د ټولو ژبو نه ځان له حېثیت لری. (اثرجان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره هم په خپله واضحه کیږي چې کله د آشوریانو په وخت کښې بې کوره شوی اسرائیلیان د مادیانو په ملک کښې مېشته شوی وو. نو د هغه وخت د انډو یورپی ژبې په بنسټ ئې د پښتو ژبې تشکیل کړے وه[1].

دغه شان د دې بې کوره شوی اسرائیلیانو نورو ډلو هم د انډو یورپی او اېفرواېشیا ټک ژبو کښې د اختراع او تجدید په وسیله نوی ویناګانې تر دې چې نوی ژبې ژېږولی دی. مونږ د دې خپل مؤقف په مرسته کښې لاندېنی بېلګی وړاندې کوو.

tat : دا د ترکۍ ژبې لفظ دے چې معنی ئې کوچې (خانه بدوش) ده. دا ژبه ویونکی یهودیان په بک (Bik) یادیږی. او په غرځنو یهودیانو مشهور دی. دوی خپله ژبه په جورۍ یا جوهورۍ بولی. د روایت تر مخې دا خلق د کوه قاف په سیمه کښې د پخوا وختونو راسې مېشته راروان دی. دا خلق په داغستان، چیچنیا، آزربائیجان، کابردینو بلکار او رشئین فېډرېشن کښې اباد دی.

:Dzhidi

دې ته یهودی فارسی هم وائی، په ایران کښې وئیلی شی.

:Bukharic

دې ته بخارۍ او تاجکۍ یهودی ژبه وائی. دا د بخارا د یهودیانو ژبه ده.

:Lisan didon

دا په ګڼو نومونو لکه لخلوکۍ، ګلی بالو او کردې یهودی ژبه باندې یادیږی.

د یهودیانو دې ژبې له کردۍ، ترکۍ، عربۍ، شرقی فارسۍ، غربی فارسۍ، عبرانۍ او ګڼو یورپی ژبو نه اغستې ټکی په خپلې لمنه کښې ځاے کړی دی. د دې ژبې خپل وطن ایرانی آزربائیجان دے.

:Hulaula

د دې متبادل نومونه لشان نوشان، جیالی، هله وغېره دی. د دې په وېنا ګانو (لهجو) کښې یوه وېنا په سلېمانیه یادیږی. چې په بنیادی توګه د ایرانی کردستان او دې سره تړلی د عراقی برخې د یهودیانو ژبه ده.

[1] د حبیبی صېب د څېړنې تر مخې د ایرانی باچا دارا یوش کبیر هغه شاهی ډبرې چې په ۵۱٦ق م کښې په میخې رسم الخط لیکلی شوې وې. په هغه کښې درې جملې داسې دی چې د ترکیب په اړوند ترې پښتو جوړیږی. د دارایوش دا ډبره ۲٤۰ کرښو باندې مشتمله ده. هره کرښه کښې ٤۵ ټکی وو او هر ټکی ئې د ۳ نه تر ۵ علامو (نخو) نه جوړ وو چې پکښې دارایوش خپلې کارنامې بیان کړې وې. هغه درې جملې دا دی:

Ne a ri ka a hum ← نے ارے که اهم ← نې اړیکه اوم ← نه اړیل هوں

Ne Drau ja na a hum ← نے دروجه نه اهم ← نې دروجنه اوم ← نه دروغ گوہوں

Ne zura ka ra hum ← نے زوره که ره اهم ← نې ځور کړه اوم ← نه جابر ہوں

د پښتو ادبیاتو تاریخ از عبدالحیی حبیبی صېب



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

:Qimant
د ایتهوپیائی یهودیانو ژبه ده.
بربریهودی:
په افریقه کښې مېشته د یهودو د یو ګوند ژبه ده.
مراکشی یهودی عربی:
په دې کښې د سپېنش، فرانسیسی، عبرانۍ وغېره ژبو اثرات راغلی دی. دا په بنیادی توګه عربی ده.
یمنی یهودی عربی: دا د مسلمانانو د عربۍ نه جلا ده، د دې نورې وېناګانې د سنا او حبان په نامو یادېږی.



## "د افغانانو ابتداء"

افغان قام د مختلفو قبیلو مجموعه ده. د دې قبائلو د یووالی د وجو نه یوه اهمه وجه اسرائیلی وړاندېز ګڼلی شی. دې وړاندېز نه یواځې د دې طائفی په قامی اړوند کښې جوړ کردار لوبولے دے. بلکې د دې قام د دننی او بارنی نفسیاتو او د یو ساده قبائلی کلتور نه د تهذیب او تمدن په لار سفر باندې هم درنې اغیزې مرتب کړی دی. د افغانی مورخینو په خیال د افغانانو د ټولو ټبرونو شمېر په لاندینی ډول دے.

کړلانی: ۱۲۰ سړبنی: ۱۰۵ غورغشی: ۹۵ بیټنی: ۷۵

د افغانانو د دې قبائلی وضعې ترتیب د عهد اسلام نه شروع کیږی. مونږ به په دې څۀ قدرې بحث کوو. خو راځئ چې ورومبے د دې قام د اسلام نه د وړاندې تاریخ لنډ جاج واخلو.

عموماً د پښتنو د نسلی قدامت په بابله د "مهابهارت" او د هیروډوټس د "تواریخ"[1] نه دلائل ورکړی کیږی. په دواړو کتابونو کښې د "پکت" په نوم د یوې قبیلې ذکر شوے دے. مونږ د دې قبیلې ذکر په تېرو صفحو کښې لیکلے دے. مونږ دا ګټ نیوکه کوو چې د

[1] سن تصنیف 450 ق م



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

پکټ په بابله په خپله په دې دواړو حوالو کښې لاینحل اضطراب او ابهام موندلے شی. سره د دې نه چې په مهابهارت او نورو لرغونی هندی تواریخو او د جغرافیې کتابونو کښې د لرغونی هندوستان او د هغه د ګاوندې ملکونو د قبیلو په بابله د قدر وړ معلومات موجود دی. په دې لړ کښې مونږ د لرغونی هندی څیړن کارو دوه جغرافیائی اصطلاحات لوستونکو ته وړاندې کوو.

(۱) **مهاجناپاداس**:

دا د دوؤ ټکو جوړ (مرکب) دے.

مها یعنی لوے، پاداس یعنی د قبیلې د پښې (ولقې) لاندې زمکه.

مهاجناپاداس د سنسکرت د ژبې جغرافیائی اصطلاح ده. چې مراد ترې لوړ رتبه دولتونه دی. دا دولتونه په لرغونی هندوستان کښې د آریاګانو د راتګ نه پس جوړ شوے وۀ. چې شمېر ئې شپاړس وۀ. د دې واکمنو نومونه په لاندینی ډول وو.

(۱) مګدها (۲) ګندارا[1] (۳) کمبوجا (۴) شاکیا

[1] د څېړنو تر مخې د ګندارا یانوژبې دارډک ډلې سره تعلق لرلو. دغه شان به دې خلقو هندکو هم وئیله. چې دا وخت ئې هم د پښتونخوا هندو اقلیت وائی. نن سبا د دارډک ډلې نه پشائی (افغانستان) خووار (چترال) شینا (ګلګت، کشمیر، لداخ) او کوهستانی په کوهستان کښې وئیلی شی.



Pukhto.Net

(۵) کورو (۶) انګا[1] (۷) کوسالا (۸) پنچالا
(۹) واتسا (۱۰) مالا (۱۱) متیا (۱۲) کاش
(۱۳) واجی (۱٤) چیډی (۱۵) سوراسینا
(۱٦) اساګا

په دې واکمنو کښې د ګندارا او تر یو حده د کمبوجا تعلق د پښتنو د موجوده سیمو سره دے[2]. ګندارا د پېښور په وادی، سوات او پوټوهار باندې مشتمله وه. او کمبوجا د هند په شمالی غربی غاړه د ګندارا نه پرته د منځنۍ ایشیا په لوړی موقعیت لرلو. په دې دواړو دولتونو کښې د مېشته قبیلو نومونه: (۱) کمبوجا (۲) ساکا (۳) ګندارا (٤) یاوانا (۵) داروناس (٦) برباداس (۷) خاشاس ذکر شوی دی.

[1] په بعضې هندی حوالوکښې داریاست په میلچهـ یاد شوی دی. دې سره خوا ته یو بل ریاست هم وۀ. چې ونګا نوم ئې وۀ. "واؤ" د "با" سره مبدل په وجه دا ریاست د بنګا په نوم هم یاد شوے دے. څېړن کار دا رائې هم روایت کوی چې دواړ واکمنو د یو ریاست تشکیل کړے وۀ، چمپا د دې ریاست پلازمینه وه. بودیانه دهرما انګا ریاست د ګډ نسلونو مجموعه روایت کوی. د مهابهارت په یو روایت شاه انګا میلچهـ وۀ. چې د نورو هندی واکمنو نه ئې بدل کلتور او مذهب لرلو. پښتو ژبه کښې انګا بنګا اسم صفت دے چې معنی ئې فضول خبرې، د یو ځاے بل ځاے، ګډوډ بیان شوی ده. وګورئ دریاب (پښتو لغت) مولفین قلندر مومند، فرید صحرائی. (اژرجان)

[2] د تعجب مقام دے چې په دې شپاړسو ریاستونو کښې نۀ د پکټ غوندې نامتو قبیلې په نوم د ریاست ذکر شته او نۀ ئې د ژبې (اژرجان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اترپهاتا**:

دا جوړ (مرکب) ټکی د "اترا" یعنی شمالی او "پاتا" یعنی لار په پیوستون سره بنا شوی دی. په لرغونی هند کښې د اترپاتا نه مراد هغه لویه لار وه چې هغه د ګنګا د لوے تجارتی لارې سره په تېره او د هغې په قطع د ټېکسلا او بلخ په اوګدو تر منځنۍ اېشیا پورې تلې وه. د دې شرقی ټګ ځاے (ټرمینل) به د تملوک (بنګال) نه شروع کېدو. د بدهائی تواریخو تر مخې د مهاجناپاداس شپاړس واکمنو کښې کمبوجا او ګندارا اترپاتا وی. د پرانک ادبی پنګو کښې بهلیکا، پهلوا، ساکا، پاراداس، راماتاس، کمبوجاس، ډراډراس، تخاراس، پیناس، بارباداس، کیکایاس، بیواس، سندهوس او سوویراس اتراپاتا قبائل یاد شوی دی. د اشوکا په یو لیکلی ډبرا کښې د هغه د واکمنۍ لاندې ابادو قبیلو نومونه په لاندینی ډول دی:

(۱) یاوانا (۲) کمبوجا (۳) ناباکاس (٤) ناباپمکت
(٥) بوجاس (٦) پتنیکاس (۷) اندراس (۸) پالیداس

مونږ وینو چې په دې باندینی واکمنو او قبائلو کښې نهٔ د پکت ذکر شته او نهٔ د پکتیکا.



البته روستنی وختونو کښې وراها مهیرا[1] په تصنیف "براهت سمیتا" کښې د افغان سره مماثل د یو نوم ذکر موندلی شی، په دغه تصنیف کښې د ټېکسلا، ګندارا، پشکلاوتۍ نه شا ته غربی لوری ته د لاندینی قومونو نومونه لیکلی شوی دی.

(۱) ګیری درکا (۲) پهلوا (۳) سین هون
(٤) اواګانه

د ځیرن کارو په خیال دلته د اواګانه نه مقصود افغان دے.

د مورخینو مطابق د اواګانه د ټولو نه لرغونۍ نداره مونږ ته د شاپور اول (۲٤۱ء تا ۲۷۲ء) په لیکلی ډبرو کښې کیګی. دا کتبه د نقش رستم په مقام د تخت جمشید سره نزدې د آتش کدې په دېوالونو لیکلی شوی وه. د ډبرې ټکی دی "ګوندیفرابګان رسماد[2]".

دا ټکی د لګ ډېر ترمیم سره د شاپور III (۳۸۲ء تا ۳۸۸ء) په شاهی ډبره کښې د اپاګان په شکل لیکلی شوی دی.

[1] ژوند ٥٠٥ء تا ٥٨١ ء
[2] ځیرن کارو تر دې وخته دا عبارت نهٔ دے تحلیل کړے.



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښېړن کارو په منځ کښې يو لوے اختلاف د افغانانو د اسلام نه وړاندې مذهب باندې هم دے. د بعضې حضراتو[1] خيال دے چې د اسلام نه مخکښې افغانان د عيسوی مذهب قائل وو. چې کومو حضراتو[2] د افغانانو د اولسی او اجتماعی نفسياتو مطالعه کړې ده د هغوی په خيال د افغانانو په اجتماعی اقدارو (پښتونولی) کښې نه د بدائی مذهب اثرات موندلی شی او نهٔ د هندوانو د طبقاتی وېش اغيزې.

د عجائب المخلوقات د مؤلف[3] په وېنا "د افغانانو په سيمه کښې د ګز (ونه) ځنګل دے چې دې ځنګل کښې يوه لويه ونه ده چې د تنې پېړوالے ئې اوولس ارشه (پېمائش) دے. دې ونې ته بامبړ (برهمن) وئيلی شی. او افغانان دې ته سجدې کوی". کهٔ چرې مونږ د سجدې نه ظاهری معنی واخلو نو د عبادت نه د مظاهرو د لمانځلو (مظاهرپرستی) مطلب په پوهه کښې راځی، خو کهٔ چرې د دې نه د دې ونې د تقديس[4] عقيده واغستې شی نو د دې تصور د نورو مذهبونو سره سره په اسلام کښې هم مونده

1 لکه روشن خان
2 لکه پرېشان خټک
3 په حواله د پښتانهٔ از دوکتور حبيب الله تژی
4 په اسمانی کتابونو کښې د ونې د تقديس نه مطلب برکت دے.



شی. دغه شان په لرغونی آريائی قومونو کښې هم د "سوما" په بابله د تقديس عقيده وه، خو بل طرف ته مونږ په پښتو ادبياتو او نهٔ د قامی رواياتو د قدر وړ ذخيره کښې د دې ونې يا د دغه رقمی لمانځلو څهٔ اثرات مومو. پرته د دې نه چې د پښتو ژبې په اولسی متلونو کښې د اور د تقديس اشارې موندلی شی.

مونږ ته د لرغونی چينی سيلانيانو په سفرنامو کښې د بنون او هغې سره تړلی سيمو کښې د "اپوکان" په نامه د يوې قبيلې ذکر ملاوېږی. خو د دې تذکرو نه د اپوکان[1] د بې دينۍ اشارې برېښی. دا امر د قدر وړ دے چې په دې موضوع (د افغانانو د اسلام نه وړاندې تاريخ) د ټولو نه غوره کار خپله افغانی مؤرخانو کړې دی. په دې لړ کښې د ټولو نه وړومبې هڅه مونږ ته د شېخ کته د "لرغونی پښتانه" په شکل کښې ترلاسه کېږی.[2]

دا وخت په دې موضوع د ټولو نه معتبره ښېړنه د دوکتور حبيب الله تژی ده. دوی په خپل قابل قدر تصنيف کښې نهٔ يوائې د افغانانو د ماقبل از اسلام تاريخ د روکو

1 د دې نوم د شاپور III د ډبرې ليک اپاکان سره يو شان والی واضح دے.
2 د بده مرغه د دې تاريخ (چې په اتمه صدی هجری کښې ليکلے شوے وهٔ) د وخت د چپو له امله نن صرف نوم پاتے دے خو د پټې خزانې د مؤلف په مننه څهٔ اقتباسات ئې بچ پاتی شوی دی.



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاڼو د لټون کامیابه هڅه کړې ده بلکې هغه مهم مآخذات ئې هم په نخښنه کړی دی. د کومو نه چې په دې موضوع مستقبل کښې څېړن کار مطلوبه مواد تر لاسه کولے شي. دوکتور تژی په خپل قدروړ تالیف کښې د فردوسي د شاهنامې د ملحقاتو[1] نه یو کردار نقل کړے دے. د دې کردار نوم کک کهکزاد وۀ. دا افغان سردار د زال او رستم د وخت وۀ. کک د رستم د پلار زال نه څو کرتې خراج اغستې وۀ. دې د غزنی نه د درې ورځو په لرتیا (فاصله) په یو لوړ غر مرباد[2] نومی قلعه کښې اوسېدلو. په دې منظومی تذکره کښې د افغانو سیمه په "مرزافغان" یاده شوې ده.

مونږ مخکښې په جدول کښې اشاره کړې ده چې د افغانستان (موجوده) د مشهور ښار میمنی زوړ نوم یهودیه وه. د یاقوت په وینا په دې کښې هغه یهود آباد وۀ چې بخت نصر دلته رامېشته کړی وو[3]. د حضور نبی الرحمة د بعثت نه پس مونږ ته د تاریخ په پاڼو کښې د دغې زمانې د یو مشر "قېس" نوم ملاویږی. د روایت تر

[1] دا ملحقات ورک نومي شاعر په شپږمه صدی هجری کښي مرتب کړی وو. پښتانه از ډاکټر حبیب الله تژی
[2] د دې نوم نه د دې قلعه د تاوُ تریخ والی اندازه په ښهٔ توګه لګی. (اثرجان)
[3] معجم البلدان از یاقوت



Pukhto.Net

مخې چې کله قېس ته د اسلام د سپېڅلی دین خبر ورسېدو. نو دې د یوې ډلې سره د عربو ملک ته لاړو او د حضور نبی الرحمة په لاس مبارک ئې اسلام قبول کړو. خو نوی څېړن کار په دغه روایت او د قېس د تشخص په بابله د رقم رقم شبهاتو ښکارونه کوی. اصل کښې د قېس کردار څۀ داسې افسانوی شکل اختیار کړے دے چې له دغې امله حقیقت ته رسېدل په خپله ګران شوی دی. خو چې کومو د قدروړ څېړن کارو[1] د کوټلی عربی مآخذاتو په چاڼ نظر سره کتنه کړې ده هغوی په دې نتیجه رسیدلی دی چې د محدثینو په تذکرو کښې د یو داسې صحابی ذکر شته چې په ختېه د ولایت (افغانستان) وۀ. د دې صحابی نوم قېس بن یزید وۀ. د اسماء الرجال د فن نوموړی عالم ابن الاثیر په خپل تصنیف "اسد الغابة فی معرفة الصحابه" کښې د قېس تذکره په دې ټکو کړې ده.

ترجمه: "قېس بن یزید" د دۀ نه د دۀ اولاد روایت کړے دے، بې شکه دې رسول الله له د جرګې (وفد) سره راغلے وۀ. او بیا ئې اسلام راوړو او دې د دۀ د قوم سردار مقرر کړے شو. او د دۀ په سر ئې (یعنی رسول الله) لاس

[1] لکه د مسعودالحسن خان روهیله لنډه او جامع رساله "قیس پٹھان ایک تحقیقی مطالعہ" پبلشر افغان ریسرچ سنټر، لاهور

(c) ketabton.com: The Digital Library

راښکلو او دهٔ خپل قام ته په هغه غر د اسلام بلنه ورکړه چې نوم ئې سلمان غر دے.

دغه شان علامه ابن حجر عسقلانی هم په خپل تالیف "الاصابة فی تمیز الصحابه" کښې د قېس بن یزید ذکر په دې ټکو کړے دے. ترجمه "قېس ووئیل چې زهٔ د السبع په وادئ کښې نبی صلی الله علیه والسلم ته جرګې (وفد) په شکل لاړم، بیا ما په هغوی باندې ایمان راوړو و د هغوی نه مې لاس نیوه وکړه. او هغوی زما د پاره یو خط اولیکلو او ما ته ئې امسا ډالئ کړه. بیا زهٔ خپل قام ته راستون شوم او هغو ټولو ته مې د اسلام بلنه ورکړه او هغوی ټول په دې یو شو (یعنی په منلو) او په غر یو ځائے شو چې ورته سلمان وئیلی شی.[1]

امام بخاری په خپل "التاریخ الکبیر" کښې د قېس بن یزید د تذکرې په لړ کښې د هغوی د حضرت عبدالله ابن مسعود نه د سماع ذکر هم کړے دے[2].

د دې باندینی درې واړو اقتباساتو نه دا خبره په ښهٔ توګه په ډاګه کیږی چې د دې صحابی یعنی د قېس تعلق عجم سره وهٔ. د دوی د سیمې نوم کوه سلمان وهٔ. دوی په

1 په حواله د مسعود الحسن خان روهیله مؤلف "قیس پټهان ایک تحقیقی مقاله

2 په حواله د مسعود الحسن خان روهیله مؤلف "قیس پټهان ایک تحقیقی مقاله



Pukhto.Net

دربار رسالت کښې د جرګې په شکل حاضری کړې وه. بیا د دربار رسالت نه دوی د ربې (بېرغ) یا امسا په درناوی سردار وټاکل شو. خو په دې قدرونو حوالو د بحث نه وړاندې به دا غوره وی چې مونږ د قېس په شجره څهٔ قدرې بحث لوستونکو ته پېرزو کړو.

په مخزن افغانی او د دې متبع مورخینو په تواریخو کښې د قېس شجره په لاندینی ډول ده. قېس بن عیص بن سلول بن عتبه بن نعیم بن مره بن جلندر بن سکندر بن رمان بن عنین بن مهلول بن شلم بن صلاح بن قارود بن عثم بن فهلول بن کرم بن عمال بن حذیفه بن منهال بن قېس بن عیلم بن اشموئل بن هارون بن قمرود بن ابی بن صهیب بن طلل بن لوی بن عامیل بن تارج بن ارزند بن مندول بن سلم بن افغنه بن ارمیابن سارول المقلب به ملک طالوت بن قیس بن عتبه بن عیص بن روئیل بن یهودا بن حضرت یعقوب

دا شجره د قېس نه تر حضرت یعقوب علیه السلام پورې په ۴۳ کړو / پورونو مشتمله ده. د علم الانساب تر مخې دا شجره د څوارلس سوو کالو نه تر شپاړس سوو کالو پورې بشپړه ده. په دې کښې ملک طالوت د یهودا له

(c) ketabton.com: The Digital Library


اولاده بیان شوے دے. حالانکې هغه بن یمیني وهٔ. بله دا چې د دې شجرې په نومونو عربي اغیزې جوتې ښکاري.

خو د افغانانو خپل منځ کښې د مخزن افغاني شجره حتمي نهٔ ده. په دې لړ کښې نوري شجرې هم روایت شوي دي. لاندې مونږ د پښتنو د محمدزو قبیلې شجره لوستونکو ته وړاندې کوو.

قېس بن عیس بن سلول بن اتبا بن نعیم بن مارع بن جندر بن سکندر بن رحمان بن امین بن مالول بن شلم بن صالح بن کرود بن عظیم بن فهلول بن کرم بن محال بن حذیفه بن منهال بن قیس بن عالم بن شمائل بن هارون بن قمرود بن لاهن بن سلیناب بن طوائل بن لیوی بن عامل بن تریج بن ارزند بن مندول بن مسالم بن افغانا بن ارمیا بن سرول (طالوت) بن قیس بن مهائل بن اخنوج بن سروغ بن یهودا بن یعقوب.



په دې شجره کښې د قېس د اولاد شجره دا رقمي نقل شوې ده:




بطان: د فسانهٔ شاهان د مؤلف مطابق په لرغونه زمانه کښې د روه په وطن کښې د ګُمل دریاب په غاړه د افغانانو درې ورونړه بتني، سربني او غورغوشتي اباد وهٔ. د دوی سردار بتن (بطان) وهٔ، او په وروڼو ئې واکمني لرله[1].

په دې شجره او د مخزن افغاني په شجره کښې د قېس (عبدالرشید) نه واخلې تر یعقوب علیه السلام پورې په بعضې پشتونو له ٤، ٦، ١٠، ١١، ٢٣، ٢٦، ٢٧، ٣٩، ٤٠ او په ٤١ کښې ښکاره توپیر دے دا توپیر بعضې

[1] فسانهٔ شاهان ژباړن مسعود الحسن روهیله صفحه ۸۲



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومونو کښې د وېنا په اړه او بعضو کښې د ټکي د ساخت په بنسټ دے.

په دې شجره کښې بيټ نيکۀ بطان[1] ليکلی شوی دی. ورسره ئې بطان او غورغشت ميرات بيان کړی دی. د سر بن په اولاد کښې ئې شرخبون ميرات ليکلی دی.

د باندينی دوو شجرو نه علاوه د قېس عبدالرشيد دربمه شجره هم محققينو[2] روايت کړې ده. چې هغه د قېس نه په بره لسمې کړۍ پورې دلته راوړلې شی.

قېس (فطان) بن عيس بن سلول بن عتبه بن نعيم بن مارع بن جوزر بن سکندر بن رمان بن امين يا عمين يا عتيق

په دې شجره کښې د قېس د اولاد شجره په دې رقم راوړلې شوې ده.

قېس (فطان) ⇐ خالد ⇐ عررين ⇐ عبدالرحمان ⇐ عبدالعزيز يا ابو نصر ⇐ عبدالله ⇐ قيس(عبدالرشيد)

[1] مؤلف د پټې خزانې د اسماعيل ولد بيټ سن حيات ۱۱٤هـ روايت کړے دے.
[2] تاريخ نيازی قبائل. از محمد اقبال خان تاجه خيل



په دې شجره کښې قېس (فطان) او قيس عبدالرشيد دوه جلا جلا مشران بيان شوی دی. د دواړو تر منځه پنځۀ پشته دی.

صاحب د تاريخ نيازی قبائل د "پښتون گائيد"[1] په حواله نقل کړی دی. چې کله توما[2] رسول د تبليغ په لړ کښې غور ته راورسېدو نو د عمومی دعوت نه پس دوی لاندينی څلور تنه ماذونان ټاکلی دی.

(۱) شمعون (۲) جدعون[3] (۳) کجين (٤) نعيم

د څېړن کارو تر مخې نعيم هم هغه دے چې په څلورمې پېړۍ کښې د قېس فطان وړ نيکۀ ليکلی شوی دی. مونږ دا باندنی حقائق د نظر لاندې ساتو او بېرته قيس بن يزيد پله راځو. دلته مونږ د هغه جوت روايت ليکل هم ضروری گڼو د کومې ترمخې چې دربار رسالت ته د راغلی جرگې غړی د حضرت سلمان فارسی په وسيله د اعلان نبوت نه خبر شوی وو.

[1] مؤلف پادری الټربحواله تاريخ نيازی قبائل
[2] د توما رسول قبر په ميلاپور (مدراس انډيا) کښې دے. د تومارسول غور ته د راتلو نه دا خبره په ډاګه کيږی چې دلته اسرائيليان مېشته وو. لکه چې ابن بطوطه په خپله سفرنامه کښې د کنجی گری (بنگلور) په بابله ليکی چې دلته يهود د پخوا وختونو راسې اباد راروان دی، د دې خلقو د اصلاح د پاره توما حواری په ۵۲ء کښې دلته راغلے وهٔ. (اثرجان)
[3] د دې عبرانی نوم معنٰی شکرگزارده. دا نوم په سلاطين 1، ب1 اية 13 او نحمياه ب7 اية 3 کښې راغلی دے.




Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یو قول تر مخې دا جرګه څوارلسو سورو د بل قول تر مخې د شلوېښتو سورو او د درېمې وېنا تر مخې د دوه اویا سورو وه. بل طرف ته اخوند درویزه روایت کوی چې دا جرګه د قام په اوویا مشرانو مشتمله وه. دغه شان د دې جرګې د ستر مشر نوم اشجع هم روایت شوے دے.

د قیس پټهان مؤلف[1] د اسماء الرجال د ګڼو روایاتو په رڼا کښې د قیس بن یزید شجره دا رقمی لیکلې ده.




دا خو وهٔ د قیس په بابله د مختلفو روایاتو وئینه (تذکره) خو تر څو چې د افغانانو د اسلام د راوړلو خبره ده. په دې لړ کښې یو بل روایت هم بیان شوے دے. د ''پټه خزانه'' مؤلف د کلید کامرانی نومی کتاب په حواله د شیخ احمد بن سعید لودهی د تاریخ نه نقل کړی دی چې

[1] مسعودالحسن خان روهیله.



''شیخ رضی لودهی د شیخ حمید لودهی وراره وهٔ. چې کله حمید لودهی د ملتان واکمن شو نو رضی لودهی ئې پښتونخوا ته ولیږلو چې د غرو خلقو ته د اسلام بلنه ورکړی''.

اوس مونږ د دې ټول بحث د تضادونو، توپیرونو او د روایاتو په مختلفو طریقو سره د سماع بېلونه (تجزیه) کوو. او په دې ټولو تضاداتو کښې د تطبیق هڅه کوو.

(۱) د ټولو نه وړومبې خبره خو دا ده چې دا ضروری نهٔ ده چې قیس بن عیص او قیس بن یزید د یو سړی نومونه وی. کیدی شی چې دواړه د یوې جرګې دوه نوموړی مشران وی ځکه چې د اخوند درویزه د روایت تر مخې دربار رسالت ته راغلی جرګه په اویا قامی مشرانو مشتمله وه.

(۲) د پښتنو په ټولو قبیلو کښې د پخوا نه دا دستور راروان دے چې د بعضو خلقو د خپل نوم نه علاوه هم څو څو نومونه وی. دا نومونه کله کنیت کله لقب او کله د یو وصف یعنی عادت له کبله ایښودی شوی وی. دغه شان د یوې سیمې سره له تعلق، کسب او نیازبین والی (اکلوتا) له کبله هم د بعضو خلقو ګڼ نومونه وی.



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳) په دربار رسالت کښې د حاضرې جرګې د ستر مشر نوم د قېس[1] نه علاوه اشجع هم روايت شوے دے. دا يو خالص عربی نوم دے. چې اسم تفضيل د. کيدی شی دا د قېس لقب وی. دغه شان اشجع د افغانانو د جرګې په عربستان کښې بدرګه هم کيدے شی. ولې د روايت د ساده مفهوم سره سم اشجع د قېس په شانی د جرګې يو نوموړے غړے وۀ. دلته مونږ د هغه قامی يادونې (روايت) څرګندونه ضروری ګڼو چې د رسول پاک د عمر د اخری کلونو په مهال پښتانۀ د ايرانيانو سره په مبارزو بوخت وو.

(٤) تر څو چې د قيس فطان يا بطان نه د قيس عبدالرشيد پورې د شجرې تعلق دے. دا قياس ته زياته ورته او حقيقت سره سمه ده. د دې نه مونږ ته د "پټه خزانه" د بعضو رواياتو د رښتيا اتقان هم تر لاسه کيږی. ځکه چې په دې کښې د شرخبون بن سربن د ځيګنې کال ۳۰۵هـ او تلين ۴۱۱هـ ليکلی شوے دے.

(۵) په بعضو شجرو کښې د غورغشت او بيټ په بابله د ميرات يادونه (روايت) دغه شان د سربن په اولاد کښې د شرخبون په بابله د ميرات يادونه مونږ ته د افغانانو په

[1] د پوهاند عبدالحی حبيبی صېب د څېړنې تر مخې قېس په اصل کښې د پښتو ژبې کېس دے چې د کندهاری وېنا سره اړه لری. معنی ئې فهيم او صاحب بصيرت ده. په درياب لغت کښې دا اسم مذکر ليکلے شوے دے چې معنی ئې عزت، ابرو، پت ده.




Pukhto.Net

مينځ کښې زړی ميرځمنې په نخښه کوی. دا بدې په زياترې د قبيلو په ذيلی خيلونو کښې وې. د دې بنيادی وجه دا ده چې د افغانانو په خپل منځ کښې تربوړولی زياترې د تاوۍ تريخوالی باعث ګرځی. د بده مرغه افغانانو کښې د دې ټکی تش نوم هم د بغض او دښمنۍ علامه ګرځېدلې ده.

(٦) د عام يادونې تر مخې افغانانو ته د بعثت نبوی خبرتيا د خالد بن وليد په وسيله شوې وه. خو په بلې يادونې کښې دا زيرې دوی ته حضرت سلمان فارسی کړے وۀ. دا يادونه قياس ته زياته ورته ده. خو د وړومبنۍ يادونې په لړ کښې دا حقيقت د نظر وړاندې لرل پکار دی. چې قريش د خپل وخت نوموړی سوداګر وۀ. د دوی تجارتی اړيکی د فارس او د روم سره وې. بلې خوا ته زمونږ دا دريځ دے چې افغانان اسرائيليان دی او دغې نوم سره د سوداګرۍ ټکی د وړومبۍ ورځې نه تړلے راروان دے. په داسې حال کښې مونږ د خالد بن وليد په وسيله افغانانو ته د بعثت نبوی د خبرتيا تصور کولے شو. د راجح روايت تر مخې حضرت خالد قريش وۀ. په بعضو افغانی تاريخونو کښې چې د ستاسو کومه اسرائيلی شجره ليکلې شوې ده د هغې تصديق يا تائيد د مکملې څېړنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بېلونې (تجزیې) نه پس کېږے شی. دا شجره بعضو کتابونو کښې په لاندېنی شکل نقل شوې ده.






اصل کښې دا شجره مونږ ته هغه عربي خېلونه په ګوته کوی چې د مختلفو وجوهاتو له کبله د افغانیت په رنګ کښې رنګ شوی دی. دې شجره کښې مېرمن سارا د بطان ټبر لیکلې شوې ده.

(۷) تر څو چې د پټې خزانې د روایت په اړه خبره ده دا په ګڼو حوالو سره ځان له او جوت دے. په ظاهره دا روایت د قیس د روایت نه په غندنه ښکاری. خو په اصل کښې داسې نۀ ده. په دې لړ کښې مونږ ته د ټولو نه وړومبے دا حقیقت منل پکار دی چې قیس د ټولو افغانانو نیکۀ نۀ وۀ[1] خو د خپلې زمانې په ټولو افغانانو کښې سر لوړ رتبه ضرور وۀ. د اخوند درویزه مطابق دربار رسالت ته د راغلې جرګې غړی اویا (۷۰) ملکانان وو. چې ظاهره ده دا به د خپل خېل یا قبیلې مشران وو. دغه شان په افغانی تواریخو کښې د پښتنو د ذیلی خېلونو شمېر په لاندېنی ډول دے.

(۱) کرلانی ۱۲۰ (۲) سربنی ۱۰۵ (۳) غورغشتی ۹۵ (۴) بیټنی ۷۷

(۸) اګرچې د یو اسرائیلی قام په حېث، افغانانو د خپل وړنیکانو دینی دندی تر یو وخته د بې کوره اوسېدو له

---
1 د دې دریځ اظهار روښان خان هم کړے دے.



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

کبله پرېښې وې خو د توحيد اغيزې د دې قام په نفسياتو او دود دستور په هره زمانه کښې پاتې شوې وې. په دې وجه مونږ وئيلی شو چې د دربار رسالت نه د راغلی جرګې د برکاتو په وجه زياترو افغانانو اسلام راوړے وۀ. خو بعضو قبيلو او خپلونو د عقيدې له يوشان والی له کبله کۀ څۀ هم د دغه دين په ډاډ غندنه نۀ وه کړې خو قبلوۀ لو کښې ئې وخت ضرور اغستې وۀ.

دا توقف بيا د شيخ حميد لودی[1] په تبليغی هڅو او وروستو د محمودغزنوی د واکمنۍ له کبله په پوره توګه له منځه تلے وۀ. په دې لړ کښې مونږ د کتېر قبيلې نوم اغستے شو، چې دا يوه افغانۍ قبيله ده، خو د محمود غزنوی په وخت کښې د اسلام راوړلو له کبله په اعوانړ[2] قاميت کښې شمېرلی شی. دوېم ببلګی ئې نون ولد ينی ولد دانی دے. اوس دا قبيله له راجپوت[3] قبائلو نه شمېرلی شی. دغه شان په لرغونی ورځو کښې ډېرې افغانې قبيلې د پښتونولۍ له ولقې نه وتلی او په غبر

[1] ٣٧٣هـ

[2] اعوانړ د ګډو نسلون د غنډ نوم دے. دې غونډ د اعوانړ قاميت تشکيل کړے دے. دا هغه نسلونه دی چې د کابل له خوا د راغلی اسلامی غورځنګونو مرستې ئې کړې وې.

[3] د راجپوت تصور په اتمه صدی عيسوی کښې هغه وخت رابرسېره شو چې کله هندومت ته د خپل مذهب د بقا د پاره د ساتندويو اړتيا پېښه شوه. دا يو خونده ور حقيقت دے چې هم دغه قبيلې به د راجپوت جوړېدو نه مخکښې مذهباً ميلچهـ ګڼلې شوې.



افغان قبائلو کښې جذب شوی دی. لکه د دړاوړ بروهيانو رئيسانۍ قبيله له اصله سپين ترين دی يا د بلوچو مينګل قبيله چې په اصل زيړ ترين دی. دغه حال د لنګا او تهمن قبيلو دے په دوی کښې بعضې قبائل د غزنوی لښکرو په ضد د انندپال او جےپال د لښکرو ملا تړ وو.

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویمه برخه



څنګه چې مونږ په وړومبۍ برخه کښې د پښتنو د نسلي څېړنې په لړ کښې د مختلفو وړاندېزونو جاج واغستو او ورسره مو د پښتو ژبې په بابله یو غېر جانبداره رائې ویونکو ته وړاندې کړه. دلته مونږ یو وار ئې بیا د خپل دې دلیل اعاده کوو. چې کله اسرائیلي قبائل د آشوریانو او بابلیانو د واکمنو په مهال د بې کوره کېدو نه پس د مادیانو په سیمو کښې مېشته شوی وو. نو د هغه وخت د لویو ژبو په بنسټ ئې یوه نوې ژبه وضع کړې وه.

د نومیالي ژب پوهان میکسي مولر په خیال "له سنسکرت څخه هم د مخه یوه زړه ژبه موجوده وه چې ادې ته پکښې موير (Moer) وئیلی کېدهٔ. دا ژبه د ټولو اندوآریائی ژبو مور وه"

دغه شان مدهیه په سنسکرت کښې د (ملا) په معنی ده. د دې کلمې دویمه لازمي معنی منځنۍ او متوسط کیږي ځکه چې ملا هم د وجود منځنۍ برخه ده. [1]

دا کلمه د انګرېزۍ د مډ (Mid) سره هم ارتباط لري په دې حساب مونږ میدی (مادی) ژبې منځنۍ او متوسط ژبې بولو دا هغه ژبې دی چې د ایراني او هندي (پارسیک او هندیک) تر منځه وئیلی کېدې. لکه په مادی ژبه کښې به

[1] په حواله د صدیق الله ریښتین صاحب



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپې ته سپاکه وئیلی کېدهٔ، دغه شان "موير" سره نزدې کلمه نن صرف په پښتو کښې د مور په شکل پاتې ده. [1]

دا حقیقت د پښتو ژبې د پاره د ویاړ باعث دے. چې دې ژبې بې د څهٔ توپیره د آریک ژبو په څنګ ټولو لرغونی ژبو له په خپل لمن کښې ځاے ورکړے دے. کهٔ هغهٔ د لرغونی سامی ژبو کلمې دی کهٔ د دړاوړی او کهٔ د لرغونی ترکی.

اوس مونږ د دې ژبو یوه لنډه پېژندګله قلم ته سپارو.

## سومیری:

دا ژبه د دجلې او فرات په کڅو کښې اندازاً ٤٠٠٠ق م وړاندې زېږېدلې وه. دا د اهل سومیر قامی ژبه وه. څېړن کارو تر دې وخته د دې ژبې اصل نهٔ دی ترلاسه کړی. اګرچې دا د یورال ـ آلټک (Ural-Altaic) [2] ژبو سره څهٔ قدرې لنډې اړیکې لری خو دا کافی نهٔ شی ګڼلی دغه شانی دا د ژبو د قواعدوضوابطو په لړ کښې سامی او انډویورپی ژبو سره هم سمے نهٔ لری. هم له دې وجې دا د ژبو دټبرونو نه ځان له یو منفرد حېثیت لری.

[1] په حواله د صدیق الله ریښتین صاحب

[2] دې کښې ترکیزی، دړاوړی، براهوی او بانتوا وغېره ژبې شامل ګڼلی شی. (Turkic)



کله چې اکادیانو د سومیریانو سره ثقافتی اړیکی سېوا کړی نو اندازاً ٣٠٠٠ ق م اکادی ژبې د سومیری ځاے اونیولو. په دغه مهال دا ژبه (سومیری) د ژوند په خاص اړخونو لکه تر مذهبی رسوماتو محدوده پاتې شوه. د څېړن کارو په خیال د لیکلو فن د سومیریانو ایجاد دے.

## ګیلکی:

دا ژبه د قطبی غربی ایرانی ژبو ولقې سره اړوند لری. چې دا وخت په ګیلان ولایت (ایران) کښې وئیلی شی. ګیلکی په درې وېنا ګانو کښې وېشلې ده. دا ژبه معیاری فارسی سره د ګرامر په لحاظ څهٔ قدرې توپیر هم لری. پخوانو لیکوالو دا ژبه په تېرې یاده کړې ده. د نورو ایرانی ژبو په نسبت دا د پښتو سره زیات یو والے لری.

## آزربائی جان:

د ژبه د ترکک (Turkic) ټبر قطبی څانګې سره اړوند لری. په خپل کور دا په پنځو څانګو وېش ده. آزربائی جائی قطبی، آزربائی جائی سئیلی، کاشکی (ایران)، خلج (ایران) سلجوق (ایران)

دا د آزربائی جان (وطن) اکثریتی ژبه ده.



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لرې:**

د دې ژبې بل نوم محلي دی. دا لرغونې ژبه په همدان کښې وئیلی کېده. چې د مادیانو د ژبې سره ئې اړوند لرلو.

**فارسي:**

دا د پرسا (Parswa) قبیلې قامي ژبه وه. دې قبیلې په ایران باندې د 550 نه تر 330 ق م پورې واکنې کړې وه. د دې ژبې تعلق د انډوایرانې ټبر سره دی. دا د لرغونې ایرانې ژبو د دوو برخو نه دوېمه برخه ده. چې وړومبۍ برخه ئې اوستا ده. لرغونې فارسي د هنحامنشیانو دولتې ژبه وه. چې د 600 ق م نه تر 300 ق م پورې واکمنې دوام لرلو.

**اوستا:**

دا د مشرقي ایراني خاندان سره تعلق لري. په مخکنی وختونو کښې دا ژبه د اراکوسیا (سیستان) باختر، گدروشیا (بلوچستان) وغېره علاقو ژبه وه. اوس د مجوسیانو مذهبي ژبه ده. دا د قدیمي ایراني ژبو سره ربط لري. چې اندازاً تر 1400 ق م لرغونه ده.

**سنسکرت:**



دا کلمه په اصل کښې سمسکرته (Samskrta) ده چې معنی ئې سمې خبرې دی. په دې لحاظ دا ټکی په پښتو کښې سمې کړتی دی، چې بېخی یو شان معنی لري. د دې ژبې لرغونتوب 1500 ق م بیانیږي. اگرچې د دې ژبې اړوند د انډوآرین ټبر سره بیانیږي خو د ساخت په لحاظ ځان له حېثیت لري. د سنسکرت، اوستا ژبې سره نزدې اړیکې دی. په ویدک سنسکرت کښې د هندو مت مذهبي صحیفې لیکلی شوی دی، چې د ټولو نه زوړ شکل ئې رگویدا دی. د دې ژبې صرفي، نحوي قواعد پانیني مرتب کړي وو.

**میدي:**

دا یوه لرغونې ایرانې ژبه ده چې د شمال مغربي ایرانې ذیلي ټبر سره اړوند لري. په دې کښې آزري، ځاځکي، مازندراني، گیلکي، کردي او بلوچې ژبې شامل دی.

**براهوي:**

دا ژبه د دړواړی ټبر سره اړوند لري. چې د پاکستان په بلوچستان صوبه او د افغانستان په کندهار ولایت او د ایران په سیستان ولایت کښې وئیلی شي. د براهویانو مینگل، رئیسائي او د دهوار ټبر یوسف زئي په خونه افغانان دی.

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سندهي:**

د نوی څېړنو تر مخې دا ژبه د سنسکرت نه لرغونه ده. چې د راجح قول مطابق دا د ډارډک ډلې د کشمیري، او لهندا ژبو سره زیات نزدېوالے لري. دا ژبه د پاکستان په صوبه سندهـ او بلوچستان کښې او د انډیا په راجهستان، ګجرات، مهاراشټر او ممبۍ په سیمو کښې وئیلی شي.

**سامي:**

د ژبو دا ټبر هم لکه د انډو یورپي ټبر په شان په ګڼو ژبو مشتمل دے. چې د ایفروایشیاټک ټبر په نوم پېژندلې شي. چې پکښې اکادي، عبراني، آرامي، قبطي، ایتهوپیائي، فینیقي او عربي ژبې د یادولو وړ دي. اکادي هغه ژبه ده چې د سومیري، ځاے ئې نیولے وۀ. عبراني د اسرائیلیانو قامي ژبه ده. آرامي د خپل وخت د لیک لوست په حواله نامتو ژبه وه. د هغه وخت ګڼو متمدنو قامونو به خپلې ژبې په آرامي خط کښې لیکلې. قبطي د فراعینو مصریانو قامي ژبه وه. عربي د نن وخت د متمدنه دنیا په لویه برخه وئیلی شي. دا داسې ژبه ده چې پکښې د انجذاب او پرمختګ پراخه صلاحیتونه موجود دي. هم په دې وجه ئې د لیک لوست په حواله سره د دنیا په ګڼو ژبو جوتی اغیزې غورزولی دي.



Pukhto.Net

اوس مونږ د پښتو ژبې د دنیا د نورو ژبو سره روابطې جدول لوستونکو ته وړاندې کوو.

| پښتو | دراوړي (ټبر) | نوعه | پشتو لفظ کا مفہوم |
|---|---|---|---|
| بدي | بدی | براهوی | دشمنی |
| بدل | بدل | براهوی | |
| ډُزې | ډزی | براهوی | جھوٹ بات |
| ډنګ | ډنګ | براهوی | سُرنا |
| بېړۍ | بیړے | براهوی | کشتی |
| دلاسه | دلاسه | براهوی | حوصلہ دینا |
| دیګ | دیګ | براهوی | |
| دود | دود | براهوی | رواج |
| دروازه | دروازه | براهوی | |
| ډُړا | دُړ | براهوی | دھول |
| دنګ | دنګ | براهوی | لمبا |
| اروا | اروا | براهوی | روح |
| دېوال | دیوال | براهوی | دیوار |
| ازار | ازار | براهوی | پریشان / مسائل |
| بندي | بندی | براهوی | قیدی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| چاکو | چاکو | براهوی | چاقو |
| ډنډ | ڈنڈ | براهوی | جھیل |
| ډنډ | ڈنڈ | براهوی | جرمانہ |
| دروغ | دروغ | براهوی | جھوٹ |
| دریغه | دریغ | براهوی | کلمہ تاسف، صرفہ |

| پښتو | دراوړی (تبر) | نوعه | پشتو لفظ کا مفہوم |
|---|---|---|---|
| چا | چا | سندھی | ضمیر استفہام |
| ډیوا | ڈیو | سندھی | دیا |
| برمانړو | مانڑو | سندھی | آدمی |
| وده | ودھ | سندھی | بڑھوتری |
| تبر | تبر | سندھی | کلہاڑی |
| تپوس | تپوس | سندھی | عیادت |
| تورزن | تورزن | سندھی | بہادر |
| سپک | سیپک | سندھی | ہلکا |
| ډنډ | ڈنڈ | سندھی | جرمانہ |
| جوته | جوتھ | سندھی | پس خوردہ |
| داره | داڑو | سندھی | رہزنی |
| نغاره | نغارو | سندھی | نقارہ |



| | | | |
|---|---|---|---|
| ناجوړه | ناجوڑو | سندھی | بیمار |
| کپری، | کوپارو | سندھی | کوپڑی |

| پښتو | سومیری | معنی | پشتو لفظ کا مفہوم |
|---|---|---|---|
| تهٔ | ATTA | تم | مفرد کا مخاطب ضمیر |
| ګګ | Gagu | عمارت | بھڑو کا چھتہ |
| زوی | Zu | بدن کا میل کچیل | پیپ |
| زر زر | Zamar Zamar | اچانک، جلدی ، فوراً | |
| ځمن | Zamanu | دشمن | |
| زابل | Zabbilu | رکاوٹ | نام |
| زوب | Zuabu | دریا | تر، نم، زیم |
| زیړی | Zayeru | گالی، بددلی | |
| زیرانی | Zayiranu | دشمنی، مخالف | |
| وار اوکه | Warka | بعد میں | |
| اودهٔ شو | Udesu | تنہا اکیلا | خواب کی حالت میں بھی انسان اکیلا ہو جاتا ہے |



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| اوم | Ummu | بخار، گرمی، حرارت | کچہ، خام |
| اخبا | Usu | باہر نکلنا، فرار ہونا | فرار |
| ترل | Utaru | سلائی کرنا، اکھٹا کرنا | |
| اُور | rru | روشنی، دن | |
| تل | Tal | دانشمند، درخشاں | ہمیشہ |
| کڈن | Kud/hu | وسائل، اسباب | سامان، عیالدار |
| مونږ | Me | ہم | |
| ګُور | Gur | بڑا | سیال، ہمسر، |
| باؤ | Bau | وہ عورت جو مردے کو واپس زندہ کرتی ہے | خیالی بلا |
| ګډ | Gud | Strong Bull | بھیڑ |
| اوګئ | Uggae | موت کا فرشتہ | جگہ کا نام |
| ځل | Zall-be | روشنی | روشن، چمک |
| سر | Sur | چوٹی | پہلا، چوٹی، طرف |
| څهٔ | Sa | What | پشتو میں فقرے کے ابتدا میں آتا ہے۔ |



| | | | |
|---|---|---|---|
| کُرم | Kurum | Grand | جگہ کا نام |
| الوتل | Alluttu | آسمان، فلکیات | ہوا میں اُڑنا |
| اسمار | Asmaru | اسلحہ برائے جنگ | نوم |
| کلے | Kili | جائے محبوس | چند گھروں پر مشتمل آبادی |
| ایله | ela | Apart from | اتنا، تھوڑا، قید سے خلاصی |
| ګډ | Gadu | کے ساتھ | باہم مشترک |
| خیرل | Seru | میدان جنگ | چھیرنا |
| هلک | Alik Maspartu | ایجنٹ، نمائندہ | لڑکا |
| هلک | Alik Seru | فوج، ملٹری | لڑکا |
| زوزاد | ZuZu | سومیری کرنسی کا آدھا | نسل، اولاد |
| زمبور | Zumboo | مکھی | سرخ مکھی |
| تکل | Takalu | حوصلہ | تلاش |
| اتل | Etlu | جنگجو | بہادر |
| اړم | Arrammu | Ramp (UK) A raised Strip | |



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| ډاکو | Daku | Kill | ڈاکو |
| هسه | Hasa-u | بے عزتی کرنا | ارادہ |
| سم سره | Sum_serru | Plant Snake | |

| پښتو | سامی (تبر) | نوعه | پشتو لفظ کا مفہوم |
|---|---|---|---|
| پټ | پتهوم | قبطی | گودام |
| رژه | الرز | عربی | چاول |
| اله | الِه | عربی | کلمہ تعجب |
| ها (هغه) | ها (هذا) | عربی | مشار الیہ کے تعین کیلئے اسم اشارے کا کلمہ لاحقہ |
| شلم | Shulm | اکادی | صحت |
| بولاق | بولاق | قبطی | شہر کا نام |
| بی له | Bala | اکادی | کے بغیر |
| بی له | Bila | عربی | کے بغیر |
| خوړ | خور | عربی | نہر |
| ځلمی | زلمی | عربی (شامی) | جوان |
| طبخی، تبخی | طباخ | عربی | توا |



| | | | |
|---|---|---|---|
| جینی | جن | عربی | پوشیدا |
| مه | مه | عربی | کلمہ نہی |
| واک | واق | عربی | اختیار |
| اتمان (نوم) | عثمان | عربی | معرب شکل |
| پړق | برق | عربی | روشنی، چمک |
| باو | بووبا | قبطی د مصریانو په عقیده د مرګ نه پس د انسان همزاد | بچوں کے ڈرانے کیلئے تصوراتی بلا |
| نا (ونه، دینه) ترنم | نون (ترنم) | عربی | حروف ترنم |
| غدو | عدو | عربی | ڈاکو |
| زرغا | زرع | عربی | تروتازہ |
| مالوچ | محلوج | عربی | کپاس |
| جونا (جوناخیل) | جونا (نوم) | عبرانی | یونس کا عبرانی نام |
| ایتمر | ایتمر (نوم) | عبرانی | ایتمر خیل |
| امیل | امیل (نوم) | عبرانی | نام |



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| له | لے | عبرانی | حرف جر |
| یشول | مبوشل | عبرانی | ابالنا |
| درک | درک | عبرانی | معلوم کرنا |
| میزر | میزران | عبرانی<br>چٹائی | دوپٹے، چادر،<br>وہ پودا جس کے<br>پتوں سے چٹائیاں<br>بُنی جاتی ہیں۔ |
| کوم | کما | عبرانی | کون / کس |
| لامبل | لمبیتا | عبرانی | نہانا |
| تیمر (نوم) | تمر (نوم) | عبرانی | نام |
| ارنیے | ارن | اکادی<br>جرم، گناه | لالچی |
| شر | شر | اکادی<br>هوا (باد) | ہوا میں تیر کے<br>گزرنے کی اواز |
| څهٔ | Su | اکادی/عبرانی<br>Which, That, The one of | کون، جنھیں |
| کودی | کدورو | اکادی | بڑا بیٹا |
| کریکۍ | کِر، کِری | اکادی | غلہ رکھنے کا کمرہ |



Pukhto.Net

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | باغ، باغیچه | |
| سړے | Sarru | اکادی<br>بادشاه | مرد |
| څارم | نتسارم | اکادی<br>رکھنا، حفاظت کرنا | لفظاً اور معناً ہم<br>معنی ہیں |
| پهٔ شا | پشاتم | اکادی<br>مٹانا | بھول، پیچھے |
| بطه | Bato | سریانی | بطخ |
| ببر | Bebro | سریانی | شیر |
| بیش | Bisho | سریانی | بُرا (صفت) |
| بوزغلی | Bozar'e | سریانی | تخم |
| باز | Bazo | سریانی | شاہین |
| برګه | Burgo | سریانی | مینار |
| سم | Sem | سریانی | دایاں، سیدھا |
| ځمن | Dijmin | سریانی | دشمن |
| درمان | Darmono | سریانی | طبی دوائی |
| دستور | Dastur | سریانی | قانون، رواج |
| ای | e | سریانی | ہاں |
| ګازره | Gizaro | سریانی | گاجر |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| هوا | Hawa | سرياني | موسم |
| خيل | Khaylo | سرياني طاقت | قبیلے کی ذیلی شاخ |
| لرې | Larwar | سرياني<br>باہر | دور |
| رژه | Rezo | سرياني | چاول |
| شال | Shalo | سرياني | شال |
| و | W | سرياني | اور |
| يا | Ya | سرياني | یا |
| جينکۍ | Zhinkike | سرياني<br>بیوی، عورت | لڑکی |
| ځلمی | Zlam | سرياني<br>خاوند، مرد | جوان |
| ب (بې) | B | سرياني | ساتھ، میں، کی<br>طرف سے |
| يل | Yala | سرياني لڑکا | بہادر |
| زوزاد | Zuzu | سرياني سکہ | نسل |
| کتل | Katwa | سرياني (کتاب) | دیکھنا |
| زيات | Zid | سرياني | زیادہ |



| پښتو | یورپی (تبر) | نوعه | پشتو لفظ کا مفہوم |
|---|---|---|---|
| پنډ | فنډ | انګلش<br>An amount of money that is collected and kept for a particular purpose | یکجا، بار، وہ وزن<br>جسے یا جانور<br>اٹھائے، بوجھ |
| مېچن | مشين | انګلش | آٹا پیسنے کا دستی آلہ |
| جاج | جج | انګلش | جائزہ، مشاہدہ |
| ارټ | ایریګیشن | انګلش | ارہٹ |
| ديوال | وال | انګلش | دیوار |
| واده | Wedd | انګلش | شادی |
| لار | لاء | انګلش | قانون، راستہ |
| تندر | تندر | انګلش | آسمانی بجلی |
| لکه | لائک | انګلش | مثال کے طور پر |
| اګۍ | اِګ Egg | انګلش | انڈا |
| هيلن | Heal | انګلش | اُمیدوار |

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| (صفت) | | To make someone who is ill become healthy again, specially by prayers | |
| سپیلنی | سپل Spell | انگلش خاص الفاظ یا اعمال سے فرد، حالات، ماحول پر اثر ڈالنا، | ہرمل |
| لیوۂ | Leo | انگلش | شیر |
| ستر | ستراپ | یونانی گورنر | بڑا |
| ملغلره | Margaritari | یونانی | موتی |
| ستوري | Asteri | یونانی | ستاره |
| پرون | Paron | یونانی، حال | کل(گزشتہ دن) |



| پښتو | ترکی (تبر) | نوعه | پشتو لفظ کا مفہوم |
|---|---|---|---|
| زئی | زو | چینی | بیٹا، خاندان |
| پوزه | پزه | چینی | ناک |
| اشر | اشر | ترکی | کھیتی باڑی میں باہمی تعاون |
| اولس | اولس | ترکی | عوام |
| بیرغ | بیرغ | ترکی | جھنڈا |
| برمته | برمته | ترکی | غصب کرنا |
| یرغل | یرغل | ترکی | حملہ |
| زرغونه | زرغونه | ترکی | سبزہ، کھلنا |
| اور ته | اورت | آزربائی جانی | عورت |
| بختور | بختور | آزربائی جانی | خوش بخت |
| بدرگه | بدرگه | آزربائی جانی | بدرقہ |
| بولگه | برگه | آزربائی جانی | نشانی |
| بوخخه | بوخچا | آزربائی جانی | لحاف |
| توت | توت | آزربائی جانی | شیشم |
| توتی | توتی | آزربائی جانی | طوطی |
| تاووس | تاووس | آزربائی جانی | طاؤس |



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| تلوسه | تلواسه | آزربائی جانی | عجلہ |
| تمبل | تمبل | آزربائی جانی | سست |
| تالان | تالان | آزربائی جانی | غارت |
| پوک | پوک | آزربائی جانی | کھوکھلا، احمق |
| پیاله | پیاله | آزربائی جانی | |
| درزی | درزی | آزربائی جانی | خیاط |
| سابون | سابون | آزربائی جانی | صابون |
| چینار | چینار | آزربائی جانی | چنار |
| ګلاپ | ګولاپ | آزربائی جانی | گلاب |

| پښتو | ایرانی (تہبر) | نوعه | پشتو لفظ کا مفہوم |
|---|---|---|---|
| بل | بلکه | ګیلکی | شعلہ |
| جد | جد | ګیلکی | خندق |
| کرک | کرک | ګیلکی | بٹیر |
| سره مل | سرمال | ګیلکی | ہمسر |
| مور | مار | ګیلکی | ماں |
| بنوشه | ونوشه | ګیلکی | بنفشہ (پودا) |
| کونځله | کنجی | ګیلکی | نباتاتی دانے |



| | | | |
|---|---|---|---|
| درزی | درزمون | ګیلکی | خیاط، درزی |
| وهه | وا | ګیلکی | باد |
| ورون | رون | ګیلکی | ران |
| زوم | زوما | ګیلکی | داماد |
| کوتر | کوتره | ګیلکی | کبوتر |
| ګازره | ګزر | ګیلکی | گاجر |
| للمه | لیلم | ګیلکی | بارانی زمین |
| وریت | یوریشت | ګیلکی | بریان |
| وابنه | واش | ګیلکی | علف |
| واوره | ورف | ګیلکی | برف |
| ویښ | ویشار | ګیلکی | بیدار |
| غټ | ګټ | ګیلکی | بزرگ، عمر رسیدہ |
| وړم | ورمه | ګیلکی | ساتھ لے چلنا |
| وینم | وینم | لری / محلی | دیکھنے کے مصدر سے فعل حال ہے |
| تلوسه | تلوسه | لری / محلی | بے قراری |
| اوښکې | اوش | لری / محلی | اشک |
| مکړه | مکره | لری / محلی | کرنا کے مصدر سے امر نہی ہے |

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| لوخ | لوط | لری / محلی | ننگا |
| کړے | کری | لری / محلی | کرنا کے مصدر سے حال مخاطب کا فعل |
| خونه | خون | لری / محلی | خون |
| مینه | مون | لری / محلی | پیار، محبت |
| تهٔ | تهٔ | لری / محلی | صیغہ مخاطب، آپ ،تم |
| کړم | کرم | لری / محلی | کرنا کے مصدر سے حال متکلم |
| مهٔ کوه | مکه | لری / محلی | امر نہی |

| پښتو | سنسکرت | پشتو لفظ کا مفہوم |
|---|---|---|
| لیور | دیور | دیور |
| زوم | جاماتر | زرماتر |
| مخ | مکھرا.مکھ | چہرا |
| څانګه | شاکھا | شاخ |
| ورځ | روج | روز |
| شپه | شپا | شب |
| میاشت | ماس | ماہ |



| | | |
|---|---|---|
| زمکه، لته | جماکه | زمین |
| ژبه | جبیها | زبان |
| سپین | سپیتا | سفید |
| شړشم،غندل | سرشپ | سرسوں |
| موتي | متهه ، مشت | مشت |
| نوک | نکهه | ناخن |
| تنده | ترشتا | تشنگی |
| څکل | چهکنا | چکھنا |
| اس | اشو | اسپ (گھوڑا) |

| پښتو | اویستا | پشتو لفظ کا مفہوم |
|---|---|---|
| اسره | آسره | اُمید |
| پیرے | پیریکا | جن،بھوت |
| اس | اسپ | گھوڑا |
| باران | باران | بارش |
| اوښکي | اشک | آنسو |
| برخه | بهره، برخ | حصہ |
| خم | خم | خم |
| ماستهٔ | ماست | دہی |



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| اژدها | اژدر | اژدہا |
| شړشم | شرشف | سرسوں |
| اوبۀ | آب | پانی |
| خر | خر | گدھا |
| ماښام | شام | شام |
| پښتو | فارسی | پشتو لفظ کا مفہوم |
| پیغور | پیغار | طعنہ |
| پلمه | پلمه | عذر، مکر، فریب |
| تک تور | تاروتار | اندھیرا |
| تلوسه | تلواسه | بے قراری |
| تغاره | تغار | تغار |
| تندر | تندر | آسمانی بجلی |
| دروغ | دروغ | جھوٹ |
| ملخ | ملخ | ٹڈی |
| زنه | زنخ | توڑی |
| برمه | برمه | اسم آلہ |
| برخه | برخ | حصہ |
| تس | تس | اسم صوت |
| پیغله | پیغله | دوشیزہ |



| | | |
|---|---|---|
| څاښت | چاشت | چاشت |
| پلندر | پدندر | سوتیلا باپ |
| رښتیا | راست | سچ |
| مار | مار | سانپ |
| ږلۍ | ژاله | ژالہ باری |

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوېستا او سنسکرت سره متقابل د پښتو ژبې منفرد تګ لاره

| پښتو | اوېستا | سنسکرت | پشتو لفظ کا مفہوم |
|---|---|---|---|
| لېور | ایور | سنسکرت | دیور |
| سخر | هوسر، خسر | سوسر | سُسر |
| زوم | زرماتر | جاماتر | داماد |
| مخ | رُخ | مکهه مکهړا | چہرہ |
| غوږ | ګوش | کرنه | کان |
| اور | انګار، آتش، آتهر | اګنی، آګ | آگ |
| څانګه | شاکها | شاخ | شاخ |
| خر | خر | کهر | گدھا |
| زنګون | زانو | جانو | گھٹنا |
| ورځ | روز | روج | دن |
| میاشت | ماه | ماس | مہینہ |
| څرم | چرم، چام | چرم، چمړا | چمڑا |
| سپین | سپتا | سپیتا | سفید |
| غر | ګیری | ګیری | پہاڑ |



| | | | |
|---|---|---|---|
| څنګل | بازو | باهو | بازو |
| ماښام | شام | شام | شام |
| غنم | ګندم | ګودهوم | گندم |
| ښهٔ | خوب | شبهه | اچھا، خوب |
| کر، کرنه | کشت، کاشت | کرشتی | کاشت |
| سل | صد | شو، سو | سو(عدد) |
| غریوے | ګریو | ګریوا | |
| خواښې | خوش دامن | ساس | ساس |
| لوشل | دوشیدن | دوهنا | دوھنا |
| څکل | چشیدن | | چکھنا |
| ورېدل | باریدن | | برسنا |
| ګړېدل | غریدن | ګرجنا | گرجنا |
| څاښت | چاشت | | چاشت |
| پلندر | پدندر | | سوتیلا باپ |
| زنه | زنخ | | توڑھی |
| رښتیا | راست | | سچ |
| شودهٔ، پیٔ | شیر | کشیر | دودھ |
| پنځهٔ | پنج | پنکه | پانچ |



Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| لسم | دهم | ديشم | دس |
| پليت | پليد | مليچھ | ناپاک |
| مچ | مگس | مکھی | مکھی |
| تنده | تشنگی | ترشتا | پیاس |



# G2cHaplogroup

**haplogroup** :In molecular evolution, a **haplogroup** (from the Greek: απλούς, *haploûs*, "one fold, single, simple") is a group of similar haplotypes that share a common ancestor having the same single nucleotide polymorphism (SNP) mutation in both haplotypes. Because a haplogroup consists of similar haplotypes, this is what makes it possible to predict a haplogroup from haplotypes. A SNP test confirms a haplogroup. Haplogroups are assigned letters of the alphabet, and refinements consist of additional number and letter combinations, for example R1b1. Y-chromosome and mitochondrial DNA haplogroups have different haplogroup designations. Haplogroups pertain to deep ancestral origins dating back thousands of years.

In human genetics, the haplogroups most commonly studied are Y-chromosome (Y-DNA) haplogroups and mitochondrial DNA (mtDNA) haplogroups, both of which can be used to define genetic populations. Y-DNA is passed solely along the patrilineal line, from father to son, while mtDNA is passed down the matrilineal line, from mother to offspring of both sexes. Neither recombines, and thus Y-DNA and mtDNA change only by chance mutation at each generation with no intermixture between parents' genetic material.

G2c:G2c is a major Y chromosome haplogroup, and yet unique: It has a very high frequency in Ashkenazi Jews, and shows strong evidence of a very recent settlement in Europe. The TMRCA (time until most recent common ancestor) appears to be around 1100 CE for this close group of Ashkenazi Jews. It is rare outside of northern Europe but there is recent evidence that this haplogroup is also found in certain Lebanese Christian populations originating from southern Syria and it has been found in a single Turk from Kars Province in Turkey on the border with Armenia, a Pashtun from the area of Pakistan bordering Afghanistan in the Hindu Kush range, and a single Burusho from the Hunza Valley in the Karakorum Range in Kashmir. Recently, it was discovered that an

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

Egyptian and a Jordanian have values very similar to the Lebanese G2c group. It is confirmed that a sample from Sicily was G2c and the common ancestor between the Jewish group and this lone Sicilian match up to the time Titus brought the Jews out of Judea. This Jewish group could very well be Italic Jews (Italian Jews); which would explain why it was never found amongst Sephardi Jews (those with origins in Spain or Portugal) and would explain it's rather late arrival into Eastern Europe.

G2c presents more mysteries regarding its origin and distribution than virtually any other major Y haplogroup. Haplogroups that are rare in certain regions are more common in another, and have rather clear origins in other places where they are more commonly found. G2c has none of these obvious characteristics. It is most common by far in a region where it arrived very recently, but rare in other region including its likely area of origin. The distribution of G2c is sparse and dispersed, with almost no G2c haplotypes found in very large intervening regions. This pattern is unique among Y haplogroups.

The presence of G2c in these areas may be accounted for by several several separate theories, each with their own time scale. It does seem very likely that G2c originated in the Near East, in Anatolia or Syria, and spread both eastward and westward from there.

(Furthermore, 7%of Ashkenazi has the haplogroupG2c, which is extremely rare in the rest of the human population. It seems to be present in a small percentage in the Pashtuns in Afghanistan.



# کتابیات


| شمېره | کتاب | مصنف/مؤلف |
|---|---|---|
| ۱ | الفهرست (اُردو) | ابن ندیم |
| ۲ | تذکرة الابرار ولاشرار (فارسی) | اخون درویزه |
| ۳ | د افغانستان ملی تاریخ | قدرت الله حداد فرهاد |
| ٤ | دریاب (پښتو لغت) | قلندر مومند<br>فرید صحرائی |
| ٥ | حیات افغانی | محمد حیات خان |
| ٦ | تاریخ فرشته (اُردو)<br>محمد قاسم فرشته | ژباړه: عبدالحئ خواجه<br>ډاکټرعبدالرحمان |
| ۷ | فتوح البلدان (اُردو)<br>احمد بن یحیٰی بلاذری | ژباړه: سیدابوالخیر<br>مودودی |
| ۹ | جغرافیه خلافت مشرقی (اُردو)<br>جی لی استرینج | ژباړه: جمیل الرحمان |
| ۱۰ | طبقات ناصری (اُردو)<br>منهاج سراج | ژباړه: پروفېسر افتخار<br>احمد |
| ۱۱ | موروج الذهب و معادن الجواهر<br>(اُردو، جلد اول) | ابوالحسن بن حسېن بن<br>علی المسعودی |
| ۱۲ | افسانهٔ شاهان (اُردو)<br>شېخ محمد کبیر بن اسماعیل حزیانی | ژباړه: ډاکټر سعود<br>الحسن خان |
| ۱۳ | رحلة ابن بطوطه (عربی) | ابن بطوطه مصر چاپ |
| ۱٤ | تاریخ نیازی قبائل | محمد اقبال خان تاجه خېل |
| ۱٥ | تاریخ الافغان جدون | مظهر قدوس |
| ۱٦ | قیس پٹھان ایک تحقیقی مقاله | سعود الحسن خان روهیله |




Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۱۷ | اسرارالافاغنه | ژباړه: سعودالحسن خان |
| | حسېن ابن صابر | روهیله |
| ۱۷ | تاریخ خان جهانی و مخزن افغانی | نعمت الله هروی |
| ۱۸ | تاریخ مرصع | نوټونه: دوست محمد |
| | افضل خان خټک | خان کامل |
| ۱۹ | پشتون کون | پروفېسر پرېشان خټک |
| ۲۰ | پشتو زبان اور ادب کی مختصر تاریخ | عبدالله جان عابد |
| ۲۱ | پښتانهٔ | ډاکټر حبیب الله تژی |
| ۲۲ | تاریخ ایران قدیم | محمد حیات |
| ۲۳ | پشتو ادب کی مختصر تاریخ | تاج سعید |
| ۲٤ | سندھی پشتو اُردو کے لسانی روابط | ډاکټر خالد خان خټک |
| ۲۵ | پشتون اپنی نسل کے آئینے میں | بهادر شاه ظفر کاکاخېل |
| ۲۶ | پښتو ادبی پوهنه | سحر گل کتوزی |
| ۲۷ | هیون سانگ کا سفر نامه (اُردو) | ژباړه: یاسر جواد |
| ۲۸ | جاټ قدیم حکمران | ژباړه: صاحبزاده |
| | بی ایس ډاهیا | عبدالرسول |
| ۲۹ | تذکره پٹھانوں کی اصلیت اور اُن کی تاریخ | روشن خان |
| ۳۰ | پټه خزانه ، کابل چاپ | محمد هوتک |
| ۳۱ | روحانیان د مغلو تاریکیان | عبدالاکبر خان اکبر |
| ۳۲ | تواریخ حافظ رحمت خانی | دیباچه: پروفېسر محمد |
| | پیر معظم شاه | نواز طاهر |
| ۳۳ | د پښتنو قبیلو شجرې او مېنې | محمد عمر رونړد میاخېل |
| ۳٤ | تاریخ خټک (اُردو) | سرفراز خان عقاب خټک |
| ۳۵ | کتاب مقدس (بائبل، اُردو) | |
| ۳٦ | انټرنېټ | |




Pukhto.Net

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**